# غواړم توبه وکړم

# مگر !!!

**لیکوال: محمد صالح المنجد**

**ژباړه: ضیاءالرحمن ذهین**

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

د دغي رسالي ژباړه مې زه خپلي مورجاني ته ډالۍ کوم، چاچې د ژوند په ټولو چارو کې په ډير مينه او شفقت سره زما لارښوونه کړي ده او زه يې په پوره اسلامي مينه او احساس سره روزلي يم.

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک

بیا به ناوخته وي! ........................................................ أ

د لیکوال سریزه ........................................................ 1

دګناهونو د سپک او بې ارزښته ګڼلو خطرونه ........................................................ 4

دتوبې کولو شرطونه اود پوره کیدو عوامل یې ........................................................ 8

لویه توبه ........................................................ 18

توبه ټول پخواني ګناهونه پاک او له منځه وړي ........................................................ 20

ایا الله ﷻ به ما وبښي؟ ........................................................ 23

د سلو کسان د قاتل توبه ........................................................ 27

کله مې چې ګناه وکړه، څه وکړم؟ ........................................................ 32

بد ملګري مې تعقیبوي! ........................................................ 37

آ یا د الله ﷻ اطاعت غوره ده، او که د بد ملګري؟ ........................................................ 39

هغوي ما ویروي! ........................................................ 41

ګناهونو مې زنده ګي تیاره او ترخه کړي ده ........................................................ 47

آیا اقرار وکړم؟ ........................................................ 48

د توبه کوونکو لپاره مهمې فتواوي ........................................................ 52

وروستۍ خبري ........................................................ 74

د توبې په اړه لاندې نصیحتونو او کیسو ته لږ توجو وکړي........................................................ 76

ketabton.com - The Digital Library

# بیا به ناوخته وي!

## الحمدالله رب العالمين والعاقبه للمتقين والصلاه والسلام على رسوله الامين وعلى آله واصحابه اجمعين.

**اما بعد!** توبه د اللهﷻ په خپلو بندګانو باندې یوه ستره پیرزوینه ده. اللهﷻ په قرانکریم کې فرمایي: « **قُلْ يٰعِبَادِىَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلٰىٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ** »[الزمر:۵۳] ژباړه: ای بیغمبره! زما هغو مؤمنو بنده ګانو ته چې په خپلو ځانونو یې تیرى کړي دي ووایه: د اللهﷻ له رحمت څخه مه ناهیلي کیږي، په یقني ډول اللهﷻ ټول ګناهونه ښني، هغه ښه ښونکى او مهربان دي.

آى مسلمانه وروره! اللهﷻ له مور او پلار څخه اویا چنده زیات مهربانه دي، په دې دنیا کې کې که د مور او پلار شفقت او مهربانې ته په ځیر سره وکتل شي، چې څومره د خپل اولاد په غم کړیږي او څومره یې په خوشحالي باندې خوشحاله کیږي، نو تر دې اویا چنده زیات اللهﷻ په خپلو بنده ګانو باندې مهربانه ده. څوک چې اللهﷻ خالصه او صادقانه توبه وکړي، او د اللهﷻ له رحمت څخه ناهیلي نه شي نو هیڅکله یې اللهﷻ بې اجره نه پریږدي.

اللهﷻ په قرانکریم کې فرمایي: «**اِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ**»[البقره:۲۲۲] ژباړه: داللهﷻ هغه خلک خوښیږي چې له بدي څخه لاس واخلي او سپڅلتیا غوره کړي.

ketabton.com - The Digital Library

په توبه کولو کې باید ځنډ ونشي کله چې له یو انسان څخه ګناه کیږي، باید بې له ځنډ څخه توبه وکړي او دخدایﷻ طرف ته رجوع وکړي. ځکه مرګ یو داسې نابللې میلمه ده چې انسان ته له خبر ورکولو پرته راځي، خو کله چې انسان وپوهیږي او خپلو تیروتنو ته متوجه شي بیا ناوخته وي او هیڅ یې له لاس پوره نه وي. د ځینو خلکو عقیده داسې وي چې کله ګناه وکړي بیا وایي، چې زه خو لا ځوان یم د توبې لپاره وخت شته کله چې سپینږیری شم بیا به توبه وکړم دا ډیر غلط فکر ده، ځکه د مرګ د راتلو نېټه نه ده معلومه، او نه هم دا معلومه ده چې ځوانان به نه مره کیږي او سپینږیري به مره کیږي. نه! کله چې د مرګ نېټه راورسیږي که ځوان وي که سپینږي او که ماشوم ټول په خپله مخه وړي.

مونږ که خپل ژوند ته فکر وکړو دا به راته ښکاره شي، چې څومره مو د اللهﷻ له حکمونو څخه سرغړونه کړي ده؟ څومره مو د اللهﷻ اوامر او حقونه تر پښو لاندې کړي دي؟ زنا، غلاء، رشوت، دروغ او داسې نور صغیره او کبیره ګناهونه چې مونږ یې له ترسره کولو څخه دریغ نه دي کړي او په ټولو کې مبتلاء یو. خو بیا هم باید د اللهﷻ له رحمت څخه ناهیلې نشو، اوس هم وخت شته باید صادقانه او خالصانه توبه وکړو په ژړا او زاریو سره د خپلو تیروتنو ښښنه وغواړو.

اللهﷻ د توبې دروازه تر هغه پوري نه بندوي، تر څو پوري چې لمر یې د مغرب له لخوا نه وي راپورته کړي. دا زمونږ لپاره ډیر لوی فرصت دي تر څو له ګناهونو څخه توبه وکړو، د اللهﷻ په حضور کې په ژړا او زاریو سره سر په سجده کړو، او له عذاب څخه یې پنا وغواړو.

ketabton.com - The Digital Library

يا الله ﷻ ته مو گناهونه وبښي، له غلطیو او تیروتنو څخه راتیر شي. یا الله ﷻ ستا په فضل او کرم سره مو ستا له عذاب څخه خلاصون نصیب کړي.

**ضیاء الرحمن ذهین**

خوست

۲/۵/۱۴۰۴

ketabton.com - The Digital Library

## د ليکوال سريزه

اِنَّ الْحَمْدَ للَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللَّه فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيْ لَهُ، وَ أَشْهَدُو أَنْ لَا اِلَهَ اِلَّا اللَّه وَحْدَهُ لَا شَرِيکَ لَهُ، و أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَمَّا بَعْدُ[1]

په دې پوهيږي چې اللهﷻ خپلو مؤمينو بندګانو ته امر کړي چې توبه وکړي. «وَتُوبُوٓاْ اِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ٣١»[النور: ٣١] ژباړه: اي مؤمينانو تاسي ټول په ګډه سره اللهﷻ ته توبه وکړي، ښايې بري در په برخه شي.

همدارنګه خپل بندګان يې په دوه برخو تقسيم کړي دي او هلته دريمه ډله شتون نه لري.

«وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ ٱلظَّلِمُونَ١١»[الحجرات: ١١) ژباړه: کوم کسان چې دغه چار چلند پرينږدې( يعني توبه ونه باسي) هغوي ظالمان دي.

1- په تحقيق سره ټول ثنا او صفت خداي تعالی لره دي او يوازي د اللهﷻ صفت او ستاينه کوو، او مرسته ورنه غواړو. هر چا ته چې اللهﷻ د نيکو هيدايت وکړي بيا هيڅوک په دې قادره نه دي چې هغه ګمرا او له مستقيمي لاري څخه واړوي او که هر څوک چې اللهﷻ ګمرا کړي بيا هيڅوک په دې قادره نه دي چې نيکي او مستقيمي لاري ته يې برابر کړي، او په دې شاهدي ورکوم چې اللهﷻ پرته بل معبود برحق نشته او نبي کريمﷺ د هغه بنده او رسول ده. دغه جملې د لويو صحابه کرامو د مسلمانيدو علت ؤ، هغه هم په هغه وخت چې خپله يې له نبي کريمﷺ څخه اوريدلي دي.(مختصر صحيح المسلم د حديث شميره۴۰۹)

ketabton.com - The Digital Library

اوس داسي وخت ده چې ډېري خلک د اللهﷻ له دين څخه لري شوي دي، گناء او نافرمانۍ عامه شوي ده، د فساد قسمونو زياتوالي پيدا کړي ده، تر دې چې اوس هيڅ داسي کس نه ده پاتې چې په گناء مبتلا نه وي، بغير له هغو کسانو څخه چې اللهﷻ ساتنه او مرسته کوي.

سره له دې چې اللهﷻ دا نه خوښوي او نه څوک مجبوروي، مگر داچې خپل نور يعني هيدايت او خپلي لارښونې پراخه او بشپړې کړي دي. په دې وخت کې زياتره انسانان د غفلت له خوب رابيداريږي، د گناء بستر پريږدي او په دې پوهيږي چې څه ډول د اللهﷻ حق وو په هغه ډول يې نه دې پيژندلي او نه يې رعايت کړي او په ادا کولو کې يې سستي او کوتاهي کړي ده. دوي په خپله گناء او سرکشي باندې ډير پيښمانه وي.

اوس هغه وخت ده چې د دغو خلکو کاروانونه د هغې مستقيمي لاري په لور د تلو اراده لري او حرکت يې کړي، د کومې په پاى کې چې د توبې روښنايې ځليږي. له بله اړخه يو ډله د ژوند له سختيو او فشارونو څخه ستړې او ناهيلي شوي ده. هوښيار اوسه چې دغه ډله د داسي لاري په لټون کې ده چې په وسيله يې وکولاى شي د ژوند له سختيو او بدبختيو څخه خلاص شي ارامښت او سکون پيدا کړي.

مگر د دغه کاروان د هرې ډلې په لار کې خنډونه شتون لري چې دوي داسي فکر کوي چې دغو خنډونو د دوي او توبې ترمنځ پرده واقع کړي ده او فاصله

ketabton.com - The Digital Library

يې رامنځته کړي ده، چې دغه خندونه ځيني د انسان د خپل نفس او وجدان پيداوار دي او ځيني نور په باندنې ميحط او رښتنې ژوند کې شتون لري.

د همدې خندونو په خاطر ما دا کتاب وليکله چې وکولای شي هر پټوالي له منځه يوسي او هر ابهام او شک ختم کړي، او ياېې حکم څرګند کړي، او يا هم د شيطان د ناوړه وسوسو او پلانونو د نابودي او له منځه وړو لامل شي.

په دې کتاب کې د سريزي سربيره د ګناهونو د سپک او بي ارزښته ګڼلو خطرونه بيان شوي دي، له دې وروسته د توبې د شرايطو اړوند وضاحت راغلي، وروسته د نفسانې او روانې درملنو يادونه شوي ده. په پای کې د توبه کوونکو لپاره د قرانکريم، سنت او د علماو له ويناوو سره سم فتواوي ذکر شوي دي.

زه رب متعال خدایﷻ ته په ډېر عاجزي سره سوال کوم چې ما او مسلمانانو وروڼو ته دغه لړ کليمات د خير او هيدايت وسيله وګرځوي. زما لپاره همدومره کاپي ده چې دوي راته يو نيکه او صادقانه دعا وکړي، او يوازي خدای تعالیﷻ ده چې زمونږ ګناهونه ښښي.

محمد صالح منجّد

د دې کتابچې اصل هغه وينا ده چې ۲۷ د ربيع الاول په کال ۱۴۰۹ ه ق کې د ليکوال لخوا وړاندې شوي ده.

ketabton.com - The Digital Library

## دګناهونو د سپک او بي ارزښته ګڼلو خطرونه

وپوهيږی! الله ﷻ دې په ما او تا رحم وکړي، الله ﷻ په يو واجب آمر سره خپلو بندګانو ته حکم کړي چې په اخلاص سره توبه وکړي.

«يَأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ اِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا...»[التحريم: ٨] ژباړه آی مؤمينانو! الله ﷻ ته توبه وباسي خالصه توبه... [1]

لومړي الله ﷻ مونږ ته د توبې لپاره يو موقع راکړي هغه هم مخکې له دې چې کرام الکاتيبين زمونږ اعمال زمونږ په عمل نامه کې ثبت کړي[2]. نبي کريم ﷺ وفرمايل:

«اِنَّ صَاحِبَ الشِّمَالِ لِيَرْفَعُ الْقَلَمَ ستَّ سَاعَاتٍ عَنِ الْعَبْدِ الْمُسْلِمِ الْمُخْطِئِ، فَاِنْ نَدِمَ وَاسْتَغْفَرَ اللَّهَ مِنْهَا أَلْقَاهَا، وَاِلَّا كُتِبَتْ وَاحِدَةً »[3] ژباړه: په دې وپوهيږی! هغه ملائکه چې د انسان په چپ اړخ کې وي او د انسان بد اعمال ثبتوي شپږ ساعته[4] دغه ګنهګار بنده ته صبر کوي، تر هغه پوري چې کيدای شي پيښمانه

1-تفسير نور ص ٦٧٧

2- کرام الکاتبين هغه ملائکي دي چې د انسانانو د ښو او بدو اعمالو د ثبتيدو دنده په غاړه لري.

3- دغه حديث طبرانی او بيقهی په (شعب الايمان) کې روايت کړي ده او آلباني دغه حديث (حسن) بللي ده.(سلسلة الا حاديث الصحيحة١٢٠٩)

4- امکان لري چې دغه ساعتونه د شپې او ورځي همدغه مشهور ساعتونه وي چې مونږ ته معلوميږي، او يا هم د شپې او ورځې ډير کم وخت وي. (لسان العرب، ماده «سوع» وفيض القدير ار مناوي)

ketabton.com - The Digital Library

شي او له الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي، که چیري پیښمانه نه شي یو گنا ورته لیکل کیږي.

مگر بل موقع د گناه له ثبتیدو نه وروسته تر هغه پوري دوام کوي چې د انسان د مرگ لحظه رارسیږي.

نن ورځ د انسانانو لوی مشکل داده چې الله ﷻ ته په عظمت، هیبت او وقار سره قائل نه دي، او شپه ورځ په گناهونو مبتلا دي. ځیني کسان خو دا کوچني گناهونه په هیڅ حسابوي. مثلاً وایي نامحرمه ښځې ته لاس ورکول او یا ورته کتل څه مشکل لر ي.

د نن ورځې انسان په مجلو او ټولنیزو صفحو کې په حرامو او نامشروع عکسونو، فلمونو او عشقي داستانو باندې خپل وخت تیروي. تر دې چې یو شمیر خلک چې کله پوه شي چې یو عمل حرام دي، نو دوي د سپکاوي او بې پروایې په ډول وایي: د دې گناه څومره ده؟ ایا گبیره گناه ده او که صغیره؟

اوس چې دومره ورسره اشنا شوي یې، چې دا گبیره گناه ده او که صغیره نو د دې دواړو روایتونو مقایسه د امام بخاري رحمه الله په کتاب کې وکړه.

انس بن مالک رضی الله عنه د نبي کریمﷺ لوی صحابي وو، یو ورځ یې په تعجب سره وویل: (تاسي اوس داسي کړنې ترسره کوي چې ستاسي په نظر له ویښته څخه نازکې او بې ارزښته دي، په داسي حال کې چې د نبي کریمﷺ په وخت کې به مونږ دا ډول عمل د ځان هلاکت باله.)

ketabton.com - The Digital Library

بل صحابي حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د مؤمن او گنهکار کسانو د گناء په وړاندې د هغوي د چلند په اړه وایي: ( مؤمن ته خپل گناهونه داسې ښکاري لکه د يو لوی غره بيخته چې ناست وي او هره شيبه دا ويره لري چې دا غر به راولويږي، خو بدکاره کس ته بيا خپل گناهونه داسې ښکاره لکه يو مچ يې چې په پوزه کيني او هغه يې شړي.)

ایا هغه څوک چې خپل گناهونه واړه او بې ارزښته گڼي، ایا کولای شي چې د نبي کريمﷺ د لاندني حديث له ويلو وروسته خپل دغه چلند درک کړي او د خطراتو محاسبه يې وکړي.

«اِيَّاكُمْ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ، فَاِنَّمَا مَثَلُ مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ كَمَثَلِ قَوْمٍ نَزَلُوا بَطْنَ وَادٍ، فَجَاءَ ذَا بِعُودٍ، وَجَاءَ ذَا بِعُودٍ، حَتَّى حَمَلُوا مَا أَنْضَجُوا بِهِ خُبْزَهُمْ، وَاِنَّ مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ مَتَى يُؤخَذْ بِهَا صَاحِبُهَا تُهْلِكْهُ » وَفِي رِوَايَةٍ: «اِيَّاكُمْ وَمُحَقَّرَاتِ الذَّنُوبِ، فَاِنَّهُنَّ يَجْتَمِعْنَ عَلَى الرَّجُلِ حَتَّى يُهْلِكْنَهُ»[1] ژباړه: د کوچينو گناهونو له ترسره کولو ځخه ځان وساتي، ځکه د کوچينو گناهونو مثال د هغې ډلي کيسې ته ورته ده چې په يو دښته کې تم شوي وي، ورو ورو کوچيني لرگي راټولوي، تر هغه چې دومره ډير شي چې وکولای شي خپله ډوډۍ ښه پري پخه کړي. په دې وپوهيږۍ! کله چې دا کوچينې گناهونه جمعه شي نو خاوند يې هلاکت ته رسوي.

علماوو د دې يادونه کړي ده چې کله نا کله کوچينې گناهونه د بې ارزښته گڼلو او له اللهﷻ ځخه د ويري د نشتوالي له امله د لويو گناهونو په کتار

1- دغه حديث امام احمد روايت کړي ده. (صحيح الجامع ٢٦٨٦ – ٢٦٨٧)

ketabton.com - The Digital Library

کې راځي او یا د هغو مرتبې ته رسیږي. په دې خاطر ویل شوي دي چې هیڅ کوچیني ګناهونه په اصرار او دوام سره کوچیني نه پاتې کیږي، او هیڅ کبیره ګناه په استغفار او ښښنې سره لویه نه پاتې کیږي.[1]

نوبناً هغه څوک چې داسې حالت ولري ورته وایو، چې د ګناه کوچینوالي ته مه ګوره دیته پام وکړه چې د چا نافرمانې کوي.

دا داسې خبري دي چې که چیري اللهﷻ وغواړي نو صادقه او ریښتنې کسان به تري ګټه پورته کړي. هغه کسان چې دګناه احساس کوي اوپه خپله ګمراهۍ کې سرګردانه او ورخطاء نه وي، او په خپل باطل باندې اصرار او ټینګار نه کوي.

نو دا خبرې د هغو کسانو لپاره دي چې د اللهﷻ په دې پیغام باندې ایمان لري.

« نَبِّئْ عِبَادِىَ أَنِّىَ أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ۴۹ »[الحجر:۴۹] ژباړه: آی پیغمبرهﷺ! زما بندګانو ته خبر ورکړه چې زه ډیر ښښوونکی او مهربان یم. (د هغو کسانو په حق چې توبه وکړي او ایمان راوړي او نیک کارونه ترسره کوي.)

« وَأَنَّ عَذَابِى هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ۵۰» [الحجر:۵۰] ژباړه: خو د دې ترڅنګ زما عذاب هم ډیر درد ناک عذاب دي.[2]

2- یعني د ګناه د تکرارولو پایله دا کیږي چې کوچني ګناهونه په لویو تبدیل شي.
همدارنګه ډیر استغفار او پیښماني د دې لامل کیږي چې لوي ګناهونه هم پرې وښښل شي.
[1] تفسیر نور صفحه۲۹۰

ketabton.com - The Digital Library

## دتوبې کولو شرطونه اود پوره کیدو عوامل یې

توبه یوستره اوباعظمته کلیمه ده چې ژور اشارات اومفاهیم لري. داسی نده لکه ډیری خلک چې فکر کوي چې ګواکې ساده الفاظ دي په خوله یې ووایه خو نور دې ګناه هغسې دوام لري. (یعنی توبه باید د زړه له اخلاصه وي، عمل پرې وشي او ګناه پریښودل شي.) ژباړن

په دې الهي پیغام کی لږ فکر وکړي

« وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوَا إِلَيْهِ... »[هود:۳] ژباړه: اوداچې که تاسي له خپل پروردګار څخه ښښنه وغواړي، اودهغه لوری ته وګرځی.[1]

تاسي ويني چې توبه دلته له استغفار څخه زيات څه دي.(يعني يوازي استغفار کاپي نه دي.)

پدې پوهیږی! چې هر لوي کار ځيني شرايط لري. نو له همدې امله علماو چې کوم شرطونه بيان کړي دي، هغه له قرانکريم او حديثو څخه اخستل شوي دي. چې دلته له هغو څخه دځينو شرطونو يادونه کوو.

1. بی له ځنډه د ګناه پريښودل اولاس ترې اخيستل
2. دتر سره شوې ګناه په اړه پيښماني
3. دګناه نه کولو قاطع اوجدي اراده
4. که چيري په ګناه کې دخلکو حقوق ضايع شوې وي، دهغو بيرته ورکړه اويايې په اړه ښښنه غوښتل

---

[2]- تفسير نور صفحه ۲۳٦

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه پوهانو دتوبې دشرطونولپاره ځینې نور موارد هم ذکر کړي چې دلته یې له مثال سره راوړو.

دګناء پریښودل باید خاص دالله ﷻ درضاء لپاره وي نه دبل څه لپاره. مثلاً یوګناء د دې لپاره پریښودل چې په ترسره کولو یې قادره نه وي.

دخلکو دخبرو له ویري دګناء پریښودل: مثلاً هغه چاته توبه کوونکی نه ویل کیږي، چې دخلکو په منځ کې دخپل شهرت په خاطر اویا هم د یو دکار څخه دبې کارۍ په خاطر ګناء پریږدي.

هغه چاته توبه کوونکی نه ویل کیږی، چې دخپل جسماني اوروحاني روغتیا لپاره ګناء پریږدي. مثلاً یوکس د دې لپاره زنا نه کوي، چې په ناوړه ناروغیو به اخته شي، اویا به یې بدن او حافظه کمزوري شي.

هغه چاته توبه کوونکی نه ویل کیږي، څوک چې د دې په خاطر غلا نه کوي، چې ګواکې کور ته نشي اوښتلای، اویا هم دتجرۍ خلاصول ورته مشکل وي اویا له ساتونکو اوپولیسو څخه ویره لري.

هغه چاته توبه کوونکی نه ویل کیږي، چې رشوت اخیستل یوازي له دې ویري پریږدي، چې ګواکې رشوت ورکوونکی به د رشوت پر ضد د مبارزه کوونکو له ډلې څخه وي.

هغه چاته توبه کوونکی نه ویل کیږي، څوک چې د دې په خاطر شراب، تریاک او نور نشه یې توکي پریږدي، چې مالي توان ونه لري. یعني پیسي نه لري چې نشه یې توکي پرې واخلي.

ketabton.com - The Digital Library

هغه چاته توبه کوونکی نه ویل کیږي، چې د کومې ګناه په کولو قادره نه وي او نه يې کوي. مثلاً يو دروغجن کس ته داسي ناروغي پيدا شي چې نور خبرې نشي کولای، او يا هم زاني کس چې نور د زنا کولو قدرت نه لري، او يا غل چې په کومه پيښنه کې د بدن غړي له لاس ورکړي اود غلا توان نه لري.

البته دغو کسانو ته له پيښيماني پرته نو څه نه وې پاتې. دوي بايد د ګناه هيله له زړه وباسي، هغه چې تير شوي په هغو افسوس او غم وکړي. په دې خاطر نبي کريمﷺ فرمايلي دي: (النَّدَمُ تَوبةٌ)[1] يعني پيښيمانې خپله توبه ده.

په دې پوهيږئ! کوم کس چې د ګناه هيله لري، خو په ترسره کولو يې قادره نه وي او هغه په ژبه بيانوي، نو اللهﷻ يې درجه د ګناه کوونکی په څير راټيټوي.

ايا د نبي کريمﷺ دا حديث شريف مو نه دي اوريدلي؟

«انَّمَا الدُّنْيَا لأَرْبَعَةِ نَفَر، عَبْدِ رَزَقَهُ اللَّهُ مَالاً وَعِلْمًا فَهُوَ يَتَّقِى فِيهِ رَبَّهُ، وَيَصِلُ فِيهِ رَحِمهُ، وَيَعْلَمُ اللَّهِ فِيهِ حَقًّا، فَهَذَا بِأَفْضَلِ الْمَنَازِلِ، وَعَبْدٌ رَزَقَهُ اللَّهُ عِلْمًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالاً فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ، يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِى مَالاً لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلاَنٍ، فَهُوَ بِنِيَّتِهِ، فَأَجْرُهُمَا سَوَاءٌ، وَعَبْدِ رَزَقَهُ اللَّهُ مَالاً وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْمًا، وَيَخْبِطُ فِى مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ لاَ يَتَّقِى فِيهِ رَبَّهُ، وَلاَ يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ، وَلاَ يَعْلَمُ اللَّهِ فِيهِ حَقًّا، فَهَذَا بِأَخْبَثِ الْمَنَازِلِ، وَعَبْدٍ

---

[1]- دغه روايت امام احمد او ابن ماجه نقل کړي ده. (صحيح الجامع ۶۸۰۲)

ketabton.com - The Digital Library

لَمْ يَرْزُقْهُ اللَّهُ مَالاً وَلاَ عِلْمًا فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالاً لَعَمِلْتُ فِيهِ بِعَمَلِ فُلاَنٍ، فَهُوَ بِنِيَّتِهِ فَوِزْرُهُمَا سَوَاءٌ...»[1]

1. يوازي د اسي هم نه ده چې دونيا د لاندې څلورو کسانو ده.

هغه بنده ته چې هغه ته الله ﷻ علم[2] او شتمنۍ ورکړې ده، او په وسیله یې له الله ﷻ څخه ویره لري. زړه سوي کوي، د خپلو دوستانو حقونه آدا کوي او په دې پوهیږي چې په دغه مال کې الله ﷻ حق لري، نو داسي کس په بهترین او لوړ ځای کې قرار لري.

هغه بنده ته چې هغه ته الله ﷻ ډیر علم ورکړي وي خو شتمنۍ نه لري، نیت یې صفا وي او داسي وایي که چیري شتمنۍ مې درلودي نو د فلانکی شتمن عالِم په څیر به ما هم عمل کاوه. نو له داسي شخص سره د نیت په اساس معامله کیږي او اجر د دواړو یوشان ده. داسي کس په بهترین ځای کې قرار لري.

هغه بنده ته چې هغه ته الله ﷻ شتمنۍ ورکړې وي خو علم یې نه وي ورکړي، په خپله دونیا کې غرق او له هر څه غافله وي. بغیر له پوهي او بغیر له دې چې له خپل رب څخه ویره ولري، زړه سوي نه کوي، د خپلوانو حقونه نه آدا

---

[2]- دغه روایت امام احمد ذکر کړي ده او ترمذي صحیح بللي ده. (صحیح الترغیب و الترهیب ۹/۱)

[1]- له علم څخه مراد دلته هغه پوهه ده چې په وسیله انسان حلال له حرامو څخه بیلولای شي، او همدرانگه د الله ﷻ او نورو حقوق پرې پیژندلي شي او کومه شتمنۍ او نور څه چې د انسان په لاس کې دي امانت دي او د ازمویني لپاره دي. (م)

ketabton.com - The Digital Library

کوي او په دې نه پوهيږي چې په دغه شتمنۍ د اللهﷻ حق ده. نو داسي کس په ټيټ او خراب ځای کې قرار لري.

هغه بنده ته چې هغه ته اللهﷻ نه علم او نه شتمنۍ ورکړي وي. او وايي که چيري دونيا مې درلودي نو د فلانکي (بې علمه شتمن) شخص په څير مې عمل کاوه. له داسي کس سره به د خپل نيت په اساس معامله کيږي. دغه دواړه کسان په ګناء کې سره يوشان وي. نو داسي کس په ټيټ او خراب ځای کې قرار لري.

2. د ګناء بدي او تاوانونه بايد درک کړي.

په دې وپوهيږه! کله چې يو انسان ريښتنې توبه وکړي، بيا دا امکان نه لري چې د تيرو ګناهونو په يادولو سره د خوشحالي احساس وکړي، او يا دا هيله وکړي چې په راتلونکې کې دا ګناء بيا ترسره کړي.

ابن قيم جوزی رحمه الله په خپلو کتابونو کې (الداء والدواء) او (الفوائد) کې د ګناء ډير زيانونه بيان کړي دي، چې ځيني له هغه څخه دلته راوړو.

١- له علم او پوهي محروميدل. ٢- په بدن او زړه کې به يې تنهايې او وحشت ځای نيولي وي. ٣- کارونه به يې سخت وي. ۴- بدن به يې سست او ناتوانه وي. ۵- د اللهﷻ له اطاعت څخه به محرومه وي. ٦- په ځان، مال او کارو کې به يې خير او برکت نه وي. ٧- د نيکي توفق به يې کم شي. ٨- زړه به يې تنګ او بې حوصلې به وي. ٩- ګناهونه به يې زياتوالي مومي. ١٠- په ګناهونو به روږدي وي. ١١- د اللهﷻ په وړاندې به بې ارزښته وي. ١٢- د خلکو په وړاندې به بې ارزښته وي. ١٣- له ګنګار څخه د چهارپايانو نفرت. ١۴- د ذلت

ketabton.com - The Digital Library

او خواري جامي به يې اغوستي وي. ۱۵- په زړه به يې مهر ولګيږي او د ابدي نفرت وړ به وي. ۱٦- دعا به يې نه قبليږي. ۱۷- غيرت به يې له منځه لاړشي. ۱۸- شرم او حيا به نه لري. ۱۹- نعمتونه به پري قطعه شي. ۲۰- غمونه او مصبتونه به پري راځي. ۲۱- په زړه کې به يې ويره او وحشت رامنځته شي. ۲۲- د شيطان په لومو کې به ګير وي. ۲۳- عاقيبت به يې په خير نه وي. ۲۴- د اخرت د دردناک عذاب ښېښتن به وي.

کله چې يو بنده خپل ګناهونه وپيژني، نو دا پيژندنه يې دې حالت ته رسوي چې له هر ډول ګناه څخه ځان وساتي، او له هغو څخه لريوالي اختيار کړي. خو د انسانانو يو ډله د ځينو عواملو له امله چې لاندې به ترې يادونه وشي له يو ګناه څخه بلې ته مخ کوي، او دا فکر کوي چې ګواکې دا ګناه اسانه او تر نورو يې جزا کمه ده.

1. د انسان نفس چې ګناه ته ډير تمايل لري، او شهوت پکې زيات قوي دي.
2. د نوې ګناه د ترسره کولو شرطونه چې له مخکنۍ ګناه څخه اسانه او په زړه پوري وي. برعکس د هغې ګناه چې د هغې ترسره کول ډير چمتوالي غواړي. شرايط او امکانات يې برابر نه وي. ځکه د دملګري او نږدې کسان دغه ګناه ترسره کوي، نو له هغو څخه بيليدل ورته سخت او دردونکی وي.
3. ځيني وختونه يو ځانګړي ګناه يو کس ته دهغه د دوستانو او يارانو په منځ کې مقام، شهرت او منصب ورکوي، نو دي نه غواړی چی ظاهراً دغه ښه شرايط له لاسه ورکړي. نو له همدې امله په دغه ګناه دوام او ټينګار کوي. ديته ورته حالت په خرابه ډلو کې چې هغه دفساد، قاچاق

ketabton.com - The Digital Library

اوترهګرۍ کارونه کوي، هم ليدل کيږي. مثال يو ورځ ذاهد او نصحت کوونکې شاعر (ابولعتاهيه)يوبل شاعر(ابو نواس) ته چې بې شرمه اوبې حياء وه نصحت وکړ. هغه يې د بې آدبي او بې پروايې په خاطر ملامت کړ، نو ابونواس يې په جواب کې لاندې بيتونه وويل:

أتراني يا عتاهي أتراني مفسدا بالنسک

تارکا تلک الملاهي عندالقوم جاهي

اي ابو العتاهيه ته دا فکر کوي، چې ګواکې زه به دا کړنې پريږدم ته نه ويني چې زه د عبادت په بربادولو سره دخپل قوم په منځ کې عزت، مقام او شهرت لرم.

3. بنده بايد ډير ژر توبه وکړي، ځکه چې په توبه کې ځنډ خپله يو ډول ګناه ده چې توبې ته ضرورت لري.

4. له دې بايد ويره ولري چې شايد توبه يې قبلوه شوي نه وي او يا پکې نمګړتيا وي.

مثلاً: هيڅ کله بايد داسي فکر ونه کړي چې توبه يې قبوله شوي ده، او په خپل دې کار باندې مغروره شي، او خپل ځان د الله ﷻ له عذاب نه په امان کې ويني. (ځکه يوازي کافران خپل ځان دالله ﷻ له عذاب نه په امان کې ويني.)

6. که چير امکان لري هغه الهي حقوق بايد آدا کړي، چې له لاس يې ورکړي دي. لکه زکات چې مخکې يې نه وي ورکړي، او يا هم هغه صدقي چې د بيوزلو او دوستانو حق وو، خو مخکې نه وي آدا کړي.

ketabton.com - The Digital Library

7. د ګناه ځای باید پرېږدي. مثلاً که چیري د دې امکان وو چې په دغه ځای کې اوسیدل د دې لامل کیږي، چې بیا په ګناه مبتلاء شي نو هغه ځای دې پرېږدي.
8. د هغو کسانو ملګرتیا باید پرېږدي چې د ګناه په ترسره کولو کې ورسره مرسته کوي. الله ﷻ فرمايي:

«الْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ۶۷»[الزخرف:٦٧] ژباړه: کله چې هغه ورځ راشي له پرهیزګارانو پرته نور ټول دوستان یو د بل دوښمنان شي.[1]

بد ملګري به د قیامت په ورځ یو د بل نه نفرت کوي، نو په دې خاطر اي توبه کوونکیه! ته باید له بدو ملګرو څخه بیل شي، که چیري ته د هغوي له دعوت څخه عاجز یې نو هغوي پرېږده، ورنه لري شه او اړیکه ورسره پري کړه.

هسي نه چې شیطان تا تر خپل تاثیر لاندې راولي، د مختلیفو دوکو او وسوسو له لارې دې بیرته خپلو پخوانیو ملګرو ته ور وګرځوي، او دا توجیه درکړي چې تا باید هغوي دعوت کړي واي. حال داچې ته پوهیږي چې د هغوي د ګناه او فشار په وړاندې ته مقابله نشي کولاي. دلته ډیر داسي حالتونه شته چې خلک د خپلو پخوانیو ملګرو له امله بیرته په ګناه باندې مبتلاء کیږي.

9. د حرامو شیانو او حرامو وسایلو له منځه وړل: مثلاً شراب، مواد مخدر، د سرګرمي او موسیقي وسایل، حرام فلمونه او انځورونه همدارنګه

[1]- تفسیر نور، صفحه ۵۸۹

ketabton.com - The Digital Library

عشقي ناولونه او هغه مجسمي چې انسان د ګناه لور ته لمسوي، نو ضرور ده چې دا ډول وسایل له منځه یوړل شي.

**مسأله:** یو توبه کوونکی چې دحقیقي او سمي لاري په پیل کې دي، او غواړي چې په دې لار کې ټینګ پاتې شي، نو باید د جاهلیت ټول کالي له ځانه لري کړي. (له پخوانیو بدو اعمالو او وسایلو څخه ځان خلاص کړي.) ډیري داسي پیښې شته چې خلک توبه وکړي مګر حرام شیان له ځانه نه لري کوي، نو بیرته په ګناه مبتلاء کیږي. (مونږ له خدای تعالیﷻ څخه به ډیر عاجزي سره د ثبات او استقامت غوښتنه کوو.)

10. انسان باید نیک صالح ملګري غوره کړي، چې د نفس او شیطان په وړاندې ورسره مرسته وکړي. دا ښه ملګري باید د پخوانیو بدو ملګرو ځای ونسي. همدارنګه د اللهﷻ ذکر او علمي مجالیسو ته باید ډیر لیواله وي، ځان په مفید او ګټورو کارونو بوخت وساتي، تر څو شیطان ته دا موقع په لاس ورنشي چې تیر ګناهونه او بد وختونه ورپه یاد کړي.
11. باید خپل بدن ته پام وکړي، هغه بدن چې مخکې په حرامو او ناوړه خوراکونو باندې وده کړې، نو اوس باید په ټول توان سره د اللهﷻ اطاعت او امر منونکی اوسي. باید هڅه وکړي چې حلال رزق وګټي، ترڅو په دې وتوانیږي چې په حرامو روزل شوي بدن په پاکه غوښه، پوست او وینه باندې بدل کړي.
12. توبه باید مخکې د مرګ له سلګیو او مخکې له دې چې لمر د مغرب لخوا نه راپورته شي وکړي. د مرګ سلګۍ یعني غرغره هغه غږ دي چې د روح وتلو او پرواز کولو په حالت کې د انسان په ستونې کې پیدا

ketabton.com - The Digital Library

کيږي. له دينه هدف دادي چې توبه بايد مخکې له کوچني قيامت نه چې هغه دانسان مرگ دي او لوی قيامت څخه ترسره شي.

(مَنْ تَابَ اِلَى اللَّهِ قَبْلَ أَنْ يُغَرْغَرَ، قَبِلَ اللَّهُ مِنْهُ)[1] هرکس مخکې له دې چې د زنکدن حالت ته ورسيږي، او روح يې له بدن څخه د وتو په حال کې وي توبه وکړي اللهﷻ يې توبه قبلوي.

(مَنْ تَابَ قَبْلَ اَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ)[2] هر شخص مخکې له دې چې لمر له مغرب څخه راپورته شي، يعني لوی قيامت قايم شي، د اللهﷻ لوري ته وگرځي او توبه وکړي، اللهﷻ يې توبه قبلوي او هغه ته رجوع کوي.

پورته چې د کومو شرطونو يادونه وشوه،له هغه حديث څخه اخيستل شوي دي چې د سلو کسانو د قاتل اړوند دي، چې په راتلونکی فصلونو کې به يې کيسه راشي.

[1]- امام احمد او ترمذي روايت کړي ده. (صحيح الجامع ٦١٣٢)

[2]- دغه حديث امام مسلم روايت کړي ده.

ketabton.com - The Digital Library

## لويه توبه

دلته د دې امت د لومړی کاروان یعنې د نبي کریمﷺ د صحابه کرامو دتوبو ځینې نمونې راوړو.

له بریده رضی الله عنه څخه نقل شوي چې یوه ورځ ماعز بن مالک اسلمي رضی الله عنه د نبي کریمﷺ حضور ته راغي وویل: آی د اللهﷻ رسوله! ما له ځان سره ظلم وکړ، ما زنا وکړه، خو اوس غواړم چې پاک مې کړې. (یعنې شرعي حد راباندې جاري کړه) خو نبي کریمﷺ هغه بیرته ولیږه.

صبا بیا راغي وویل: آی د اللهﷻ رسوله! ما زنا کړې ده. نبي کریمﷺ د دوهم ځل لپاره بیرته ولیږه. وروسته نبي کریمﷺ د ده قوم ته یو کس ولیږه. پوښتنه یې وکړه.( ایا دغه کس د عقل له لحاظ کومه ستونزه لري؟ او یا تاسې یې خبرې نه اورې.)

هغو وویل: مونږ له ده نه د عقل او پوهې پرته نور څه نه دي لیدلي، او مونږ یې د صالحو او نیکو کسانو څخه وینو.

ماعز د دریم ځل لپاره د نبي کریمﷺ حضور ته راغي. نبي کریمﷺ د دوهم ځل لپاره د ده قوم ته یو کس ولیږه، او د احوال پوښتنه یې وکړه. هغو په جواب کې وویل: چې مونږ د ماعز اړوند څه نه دي لیدلي، او نه یې عقل ته کوم زیان رسیدلی ده. هغه وخت چې کله ماعز د څلورم ځل لپاره د نبي کریمﷺ حضور ته راغي، نو د هغه لپاره یو کوهی وکیندل سو، وروسته نبي کریمﷺ په هغه د سنګسار حکم وکړ او سنګسار سو. په دوام یې وایي یو ښځه چې غامدیة نومیده د نبي کریمﷺ حضور ته راغله وویل: آی د اللهﷻ رسوله! ما زنا کړې ده ما پاکه کړه، یعنې حد

ketabton.com - The Digital Library

راباندې جاري کړه. نبي کریمﷺ بیرته ولیږله، صبا بیا راغله وویل: آی د الله جَلَّ جَلَالُهُ رسوله! ولې مې بیرته لیږې؟ له څنګه چې دې ماعز واپس کړي وو، ما هم واپس کوې، په خدای قسم چې زه حامله هم یم.

نبي کریمﷺ ورته وفرمایل: اوس لاړه شه تر هغه وخته چې ماشوم دونیا ته راوړې.) وایي کله چې ماشوم پیدا سو په داسې حال کې چې هغه یې په جنډه کې تاو کړي وو، د نبي کریمﷺ حضور ته راغله وویل: آی د الله جَلَّ جَلَالُهُ رسوله! ماشوم مې دونیا ته راوړ. خو نبي کریمﷺ ورته وفرمایل: ځه تر هغه وخته پورې چې دا ماشوم شېدې خوري وریې کړه. څه وخت وروسته یې زوی له شېدو جلا کړي وو، په داسې کې راوست چې د ماشوم په لاس کې یو ټوټه ډوډۍ هم وه وویل: آی د الله جَلَّ جَلَالُهُ رسوله! دا مې زوی ده چې اوس له شېدو جلا شوی ده او ډوډۍ خوري. نبي کریمﷺ یې زوی یو مسلمان ته وسپاره، وروسته یې د کوهي کیندلو امر وکړ چې د ښځې تر سینې پورې وکیندل سو، خلکو ته یې آمر وکړ او سنګسار یې کړه.

په دې وخت کې خالد رضی الله عنه یو ډبره راپورته کړه، او هغه یې په سر دومر مضبوته وویشته چې وینې یې د خالد رضی الله عنه مخ ته ورباد سوې، خالد رضی الله عنه ورته ښکنځلې وکړې، نبي کریمﷺ واوریدې، ورته وویل: لږ صبر وکړه خالده! عجله مکوه. قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې ده دغې ښځې داسې توبه وکړه، که چیرې یو مالیاتې مامور چې په زور او ظلم سره له خلکو نه خیراج اخلې، په دا

ketabton.com - The Digital Library

ډول توبه وکړي هتمن به ورته ښښنه وشي[1]. وروسته نبي کریمﷺ فرمان وركړ، په هغې د جنازي لمونځ آدا کړ او دفن یې کړه.

په یو روایت کې راځي چې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وویل: آی د اللهﷻ رسوله! هغه دې سنگسار کړه، او د جنازې لمونځ دې هم وکړ.

نبي کریمﷺ وفرمایل:

(لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ وَسِعَتْهُمْ، وَهَلْ وَجَدْتَ شَيْئًا أَفْضَلَ مِنْ أَنْ جَادَتْ بِنَفْسِهَا اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ)[2] په حقیقت کې هغې داسي توبه وکړه، که چیري دغه توبه د مدیني د اویا تنه اوسیدونکو په منځ کې وویشل شي د هغو ټولو لپاره کفایت کوي. آی عمره! ایا ته له دینه د لوړ فضلت ولا څه پیدا کولای شي، چې یو څوک دې خپل ځان اللهﷻ ته ډالۍ کړي.

## توبه ټول پخواني گناهونه پاک او له منځه وړي

امکان لري چې څوک ووایې، چې زه غواړم توبه وکړم خو کوم شي به د دې ضمانت وي، چې گواکې اللهﷻ ماته ښښنه او مغفرت کوي. که چیري زه توبه وکړم په داسي حال کې چې نیکي او مستقیمي لارې ته

---

[1]- دا حدیث امام مسلم روایت کړي ده.

[2]- دغه روایت عبدالرزاق په خپل کتاب کې راوړي ده. (۳۲۵/۷)

ketabton.com - The Digital Library

ډیر تمایل هم لرم، دیته په کتو سره زه د شک او دوه زړه توب احساس کوم. که چیري په دې وپوهیږم چې خدای تعالیﷻ مې ببښي نو زه حتمن توبه کوم.

داسي شخص ته وایم: کوم څه چې ته احساس کوي اوستا په زړه کې تیریږي، دقیقاً هغه څه دي چې له تا څخه مخکې دانسانانو په زړونوکې تیریدل، اوهمدارنگه دصحابه کرامو په زړونو کې تیریدل.

که چیرې لاندې دوه روایتونه په دقیق ډول سره ولولئ نوهتمن هغه څه چې ته یې احساس کوي له منځه ځي. (که چیرې خدای تعالیﷻ وغواړئ)

لومړی روایت: امام مسلم دعمروبن العاص رضی الله عنه دمسلمانی کیسه د ده له خولي داسي رانقل کړي ده.

کله چې اللهﷻ د اسلام مبارک دین زما په زړه کې گران اومحبوب کړ، نو دنبي کریمﷺ حضور ته ورغلم ورته ومې ویل: لاس دې راکړه چې بعیت درسره وکړم. هغه خپل مبارک لاس را اوږد کړ کله چې ما دهغه لاس ونیوه نبې کریمﷺ راته وفرمایل: (آی عمره! په تا څه شوې دي. ورته ومې ویل: غواړم یوشرط کیږدم. راته وویل: څه شرط. ورته ومې ویل: شرط مې داده چې وبښل شم. وفرمایل:

(أَمَا عَلِمْتَ يَا عَمْرو أَنَّ الْاِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ؟ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا؟ وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَاكَانَ قَبْلَهُ؟): یعنې ته نه پوهیږې ای عمره! اسلام هرهغه څه چې مخکې تیرشوي وي پاکوي اوله منځه وړي، اوهجرت هرهغه څه چې مخکې وو پاک اوله منځه وړي، همدارنگه حج هرهغه څه چې مخکې وو پاک اوله منځه وړي.

ketabton.com - The Digital Library

دوهم روایت: امام مسلم له عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کوي، چې یو شمیر مشرکین چې د زیات قتلونه، زناو او فحشاوو مرتکب شوي وو، دنبي کریمﷺ حضور ته راغلل وویل: څه چې وایي او څه ته چې بلنه کوي هغه ډیر نیک اوښه دي اي کاش! چې تا مونږ ته خبر راکړي وی، چې دهغه څه یعنې قتل، زنا... چې مونږ ترسره کړي کفاره یې څه ده.

« وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِى حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا۶۸ »[الفرقان:٦٨] ژباړه: هغه کسان چې له اللهﷻ پرته کوم بل معبود نه مني، هغوی نفس په ناحقه نه وژنئ، چې خدایﷻ حرام کړي دي او نه دزنا مرتکب کیږي، خو هرڅوک چې داکار (شرک، قتل،زنا) وکړي هغه دخپلې گناه بدله ومومي.

او په تعقیب یې دغه ایت نازل شوي دي.« قُلْ يٰعِبَادِىَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ»[الزمر: ٥٣] ای پیغمبرﷺ! زما هغه مؤمنو بندگانو ته چې پرخپلو ځانونو یې تیری کړی دي، ووایه داللهﷻ له رحمت څخه مه ناهیلې کیږئ.

ketabton.com - The Digital Library

## ایا الله ﷻ به ما وبښي؟

ځینې وختونه ته وایې چې غواړم توبه وکړم خو زما ګناهونه ډیر زیات دي، حتی تر دې چې داسي هیڅ بد عمل نده پاتې چې مادې نه وي ترسره کړي. حتی هغه ګناهونه چې په خیال کې دې نه تیریږی اویا هم تیریږی خو ما ترسره کړي دي. نه پوهیږم! چې آیا امکان لری چې خدایﷻ به هغه څه چې کلونه مې ترسره کړیدي راته وبښې او کنه!

آی زما وروره ! تاته وایم دایوازې ستا ستونزه نه ده، دا دهرهغه چا ستونزه ده چې غواړي توبه وکړي. دمثال په ډول دیو ځوان کیسه درته کوم، دغه ځوان یو وار داسي سوال وکړ؟ زه چې کله نوی ځوان شوم له هغه وخته په ګناه کې مبتلا یم، تردې چې عمر مې تر اولسو کالونو پوري رسیدلي ده، خو دبدو، فاحشو، صغیره او کبیره ګناهنونو دوسیه مې ډیره اوږده ده، او په ډیرو وړو او لویو کسانو مې تجاوز کړي ده، حتی یو ځل مې په یوه کوچنۍ انجلۍ تجاوز وکړ او په کراتو کراتو مې غلا هم کړي ده.

خو اوس وایي: چې اللهﷻ ته مې رجوع کړي ده په بعضو شپو کې عبادت کوم. د شپې د تهجد لمونځ کوم، او د دوشنبې او پنج شنبې په ورځ روژه نیسم، او هر سهار دلمانځه ورسته د قرانکریم تلاوت کوم. آیا زما توبه به قبوله شي؟ (آیا زما لپاره توبه امکان لري.)

ketabton.com - The Digital Library

مونږ مسلمانانو لپاره اصلي او مهمې سرچینې دالله ﷻ کتاب او دنبی کریم ﷺ حدیث دي، چې په وسیله یې کولای شو د دین له احکامو، دحلالو او حرامو په پیژندلو اودستونزو په حل او دهغو په وړاندې غبرگون کې راسره مرسته وکړي. مونږ باید په هرحالت کې دغه دوه الهی رسیو ته رجوع وکړو. نو بناً کله قرانکریم گورو د الله ﷻ دا پیغام وینو.

« قُلْ يَٰعِبَادِىَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ٥٣ وَأَنِيبُوٓا إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُۥ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ٥٤»[الزمر:٥٣-٥٤] ژباړه: آی پیغمبره ﷺ! زما هغه مؤمنو بندگانو ته چې پر خپلو ځانونو یی تیرې کړي دي، ووایه: دالله ﷻ درحمت څخه مه ناهیلې کیږئ، په یقیني توگه الله ﷻ گناهونه ښښي هغه ښښونکی او مهربانه دي، او دخپل رب خواته وگرځی، او دهغه امر منونکې شي مخکی له دي چې پرتاسې عذاب راشي، اوبیا له هیڅ لوري درته مرسته نشي رسیدلای.

پورته مو چې کومه ستونزه مطرحه کړه دا آیتونه دهغه لپاره ښکاره اودقیق جوابونه دي، چې نوری تشریح او وضاحت ته ضرورت نه لري.

مگر هغه احساس چې یو گنهگار یې لري چې زما گناهونه له هغه څخه زیات دی کوم چې الله ﷻ ښښي، دغه احساس د لاندې څلورو کمزوریو له امله رامنځ ته کیږي.

1. دا ناهیلی له دې امله وي چې بنده دالله ﷻ د رحمت په پراخوالي باندی یقین نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

2. د ایمان دکمزور تیا له امله وي یعنې دا باور نه لري چې اللهﷻ کولاې شي ټول گناهونه وبښي.
3. دا د زړه دیو مهم عمل (رجاء)[1] د کمزورتیا له امله وي.
4. دتوبه کوونکی د بدگمانې له امله چې فکر کوي چې گواکی گناهنونه به یی پاک نشي.

اوس د پورتنیو کمزوریو لپاره ځوابونه ذکر کوو.

1. کمزوري ځواب: د دې لپاره د اللهﷻ دا پیغام کفایت کوي. الله ﷻ فرمايي: « وَرَحْمَتِى وَسِعَتْ كُلَّ شَىْءٍ »[الاعراف: ١٥٦] ژباړه: زما رحمت په هر څه خور شوي ده.
2. کمزوري ځواب: د دې لپاره لاندې حدیث قدسي کفایت کوي.

(قَالَ اللَّهُ عَزَّوَجَلَّ: مَنْ عَلِمَ أَنِّى ذُو قُدْرَةٍ عَلَى مَغْفِرَةِ الذُّنُوبِ غَفَرْتُ لَهُ، وَلَا أُبَالِى مَالَمْ يُشْرِكْ بِى شَيْئًا)[2] اللهﷻ وایې څوک چې زما په اړه داسې نظر اوعمل ولري، چې زه د ټولو گناهونو دبښلو توانایې لرم، هغه به وبښم او دا راته مهمه هم نده، خو په دې شرط چې له ماسره به څوک شریک نه نیسي، دا واقعه په هغه وخت پورې مربوطه کیږی چې کله بنده د آخرت په ورځ له خپل ربﷻ سره ملاقات وکړي.

3. کمزوري ځواب: د دې لپاره لاندې قدسي حدیث راوړو.

---

[1]- د اللهﷻ رحمت او مهرباني ته هیله او امید درلودلو ته رجاء وایي.

[2]- دغه حدیث طبراني په معجم کبیر کې او حاکم روایت کړي ده. (صحیح الجامع، ٤٣٣)

ketabton.com - The Digital Library

(يَا ابْنَ آدَمَ، اِنَّکَ مَا دَعَوْتَنِی وَرَجَوْتَنِی غَفَرْتُ لَکَ عَلَى مَا كَانَ مِنْکَ وَلَا أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُکَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَکَ، وَلَا أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ اِنَّکَ لَوْ أَنَّکَ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا تُشْرِکُ بِی شَيْئًا لَأَتَيْتُکَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً)[1] اې د آدم زویه! تر هغه وخته چې ته ماته فریاد کوي او له ما څخه امید لري، زه به دې ټول ګناهونه وبښم، که څه هم څومره زیات وي، دا ښنه زما لپاره هیڅ مشکل نده، آی د آدم زویه! که ته ماته دځمکې دپراخې په اندازه ګناهنونه راوړې په داسې حال کې چې له ماسره دی شریک نه وي نیولی، نوزه هم درته همدومره ښنه او مغفرت لرم.

4. کمزوري ځواب: د دې لپاره دنبی کریمﷺ دا حدیث کافي ده.

«التائب من الذنب کمن لا ذنب له»[2] له ګناه نه توبه کوونکی دهغه کس په شان ده، چې هیڅ ګناه یې نه وي کړي. یعنې د اعمالو دوسیه یې خالي او پاکه وي.

دلته مونږ ټولو هغو کسانو ته چې دا ورته مشکل ښکارې چې ګواکې زمونږ زیات ګناهونه او فسادونه به اللهﷻ ونه ښښي، دغه صحیح حدیث چې دسلو کسانو د قاتل اړوند ده وړاندی کوو.

---

[3]- دا حدیث امام ترمذي روایت کړي ده.

[4]- دا حدیث ابن ماجه روایت کړي ده. (صحیح الجامع ۳۰۰۸)

ketabton.com - The Digital Library

## د سلو کسان د قاتل توبه

ابوسعيد سعد بن مالک بن سنان خدري رضی الله عنه له نبی کریمﷺ څخه روایت کوي، چې نبي کریمﷺ وفرمایل: له تاسي نه مخکې وختونو کې یو کس وو چې ۹۹ نفره یې وژلي وو. هغه په ځمکه د یو پوه او عالم کس پوښتنه وکړه، خلکو ورته یو راهب[1]کس معرفي کړ، هغه ته ورغی ورته وویل: ما ۹۹ کسان وژلي دي. آیا زه کولای شم چې توبه وکړم؟ عابد ورته وویل: (نه) نو هغه عابد یې هم وواژه، په دې سره د وژنو شمیر سلو ته ورسیده.

نو بیا دا قاتل د وخت د یو بل عالم او پوه شخص په لټه کې سو، خلکو ورته یوعالم معرفي کړ، ورغی ورته وویل: تر اوسه مې سل نفره وژلي دي. آیا زه کولای شم توبه وکړم؟ عالم ورته وویل: (هو) کولای شي څوک ده چې ستا او توبې ترمنځ خنډ شي.

بیا هغه عالم ورته وویل: د فلانۍ ځمکې په لور لاړ شه، ځکه هلته داسي خلک ژوند کوي چې یوازي د اللهﷻ عبادت کوي او ته هلته له هغوي سره عبادت وکړه، خو پام کوه چې خپل پخواني وطن ته راونه ګرځې ځکه ستا وطن بد ځای دي. (یعنې ستا د وطن خلک بد او فاسد دي.)

دغه قاتل حرکت وکړ چې کله نیمایې لاري ته ورسیده مړ سو، په دې حالت کې د رحمت او د عذاب ملائکو ترمنځ د ده د پورته کولو په سره اختلاف راغي.

---

[1]- راهب = د دونیا ترکوونکی یعني معمولاً هغو افرادو ته ویل کیږي چې ډیر عبادت کوونکي وي.

ketabton.com - The Digital Library

د رحمت ملائکو ویل: هغه راغلي وو په داسي حال کې چې له زړه نه يې توبه کړې وه، او د اللهﷻ لور ته ګرځيدلي وو نو مونږ يې پورته کوو.

د عذاب ملائکو ویل: هغه هيڅکله ښه عمل نه دي کړي، نو په دې خاطر مونږ پورته کوو.

په دې وخت کې يوه ملائکه د انسان په بڼه دغو ملائکو ته راغله، او دوي هغه د منځګړې په توګه وټاکله. هغې منځګړې وویل: تاسي د دغو دوه ځمکو ترمنځ فاصله مقايسه کړي، که چيري دغه قاتل د بدکارانو خواته نږدې وو، نو د عذاب ملائکې به يې پورته کوي، او د صالحانو خواته نږدې وو، نو د رحمت ملائکې به يې پورته کوي.

کله چې ځمکه مقايسه سوه، نو معلومه سوه چې د صالحانو د ځمکې خواته نږدې دي، نو د رحمت ملائکو پورته کړ. په يو بل صحيح روايت کې راغلي چې د صالحانو خواته د يو لويشتې په اندازه نږدې وو نو له هغوي څخه وشميرل سو. همدارنګه په يو بل صحيح روايت کې راځي، چې اللهﷻ د صالحانو ځمکې ته آمر وکړ چې نږدې شه، او د بدکارانو ځمکې ته يې آمر وکړ چې لرې شه.  وروسته يې آمر وکړ چې د دې دوه ځمکو ترمنځ مقايسه وکړي، نو معلومه سوه چې د صالحانو خواته د يو لويشتې په اندازه نږدې دي، په دې خاطر اللهﷻ هغه قاتل وباښه.

ketabton.com - The Digital Library

(نَعَمْ، وَمَنْ يَحُولُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ التَّوْبَةِ)[1] هو! کوم کس کولای شي چې ستا او توبې ترمنځ فاصله رامنځته کړي.

اې انسانه! ایا تر دې به بله لویه گناه وي کومه چې دغه قاتل کړي وه، خو الله جَلَّ جَلَالُهُ توبه قبوله کړه او هغه ته یې رجوع وکړه. (نوبیا نا هیلي ولې یې؟)

مسلمانه وروره! کار تردې لوی دي لږ لاندې ایت ته وگوره او فکر وکړه.

« وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِى حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا٦٨ يُضَٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِۦ مُهَانًا٦٩ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَٰلِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَٰتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا٧٠» [الفرقان:٦٨-٧٠]

ژباړه: هغه کسان چې له الله جَلَّ جَلَالُهُ پرته کوم بل معبود نه منئ، هغوي نفس په ناحقه نه وژنئ، چې خدای حرام کړي وي او نه د زنا مرتکب کیږي. خو هر څوک چې دغه کار (قتل، شرک یا زنا) وکړي هغوي به د خپلې گناه بدله ومومی.(٦٨) د قیامت په ورځ به هغه ته په پرله پسي عذاب ورکړل سي، او په همغه کې به د تل لپاره ذلیله پورت وي.(٦٩) مگر داچې چا ( له دغو گناهونو څخه وروسته) توبه ایستلي وي، ایمان یې راوړي وي او غوره عمل یې کړي وي. د دغو خلکو بدی الله جَلَّ جَلَالُهُ په نیکیو بدلې کړي. الله جَلَّ جَلَالُهُ ښه ښښونکی او خورا زیات مهربان دي.(٧٠)
یوه لحظه په لاندې پیغام کې فکر وکړه.

« فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَٰتٍ »[ الفرقان:٧٠]

---

[1]- متفق علیه، یعني دغه حدیث امام بخاري او امام مسلم رحمه الله دواړو روایت کړي ده.

ketabton.com - The Digital Library

هغه کسان چې توبه وکړي هغو کسانو ته وويل کيږي چې يقيناً الله ﷻ گناهونه په نيکيو بدلوي. او پورتنی مبارک ايت د الله ﷻ بې پايه او د سترو فضلتونو ښکارندويه ده.

علما وايي: چې دغه د بديو تبدلي په نيکيو باندې دلته په دوه ډوله دي.

اول: د بدو صفاتو تبديل په نيکو صفاتو باندې: مثلاً د شرک تبديل په ايمان، د زنا تبديل په پاک لمنی، د دروغو تبديل په رېښتيا او صداقت، دخيانت تبديل په امانت دارې او داسي نور

دوهم: د قيامت په ورځ د بدو صفاتو تبديل به نيکو صفاتو باندې: دې آيت ته لږ فکر وکړئ: « يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ »[ الفرقان:۷۰] په دې ايت کې داسي نه دې ذکر شوي چې د هري بدي په مقابل کې به يوه نيکې ورکول کيږي، امکان لري کم وي يا مساوي او يا هم به څرنگوالي او څومره والي کې زيات وي، خو دا د توبه کوونکی په صداقت پوری اړه لري. نوبناً له دينه بل لوي فضل او کرم ويني.

د دې عفوي او الهی کرم د ښه توضيح لپاره لاندې مبارک حديث ته پاملرنه وکړئ.

عبدالرحمن بن جبير له ابوطويل شطب ممدود څخه روايت کوي چې د نبی کريم ﷺ حضور ته راغی. او يا هم به بل روايت کې راځي چې يو سپنږيری سړی چې وريځې يې په سترگو راپرتې وي، په داسي حال کې چې د لرگي په لکړه يې ځان تکيه کړي وو، د نبی کريم ﷺ حضور ته راغی وويل: د هغه سړي په اړه ستا نظر څه دي، چې هغه هر گناه کړي وي هيڅ صغيره او گبيره

ketabton.com - The Digital Library

گناه ترې پاتې نه وي. په بل روايت کې راځي چې هيڅ داسي گناه پاتې نه وي چې هغه په خپل لاس نه وي ترسره کړي. حتی تر دې چې دغه گناهونه د ځمکې د ټولو اوسيدونکو باندې وويشل شي نو د ټولو د هلاکت سبب کيږي. آيا داسي کس توبه کولای شي؟

نبی کریمﷺ ورته وفرمايل: ايا اسلام دې راوړی؟

سپنږيری وويل: زه د اللهﷻ په وحدانيت باندې شاهدي وايم او په دې هم شاهدي ورکوم چې ته د اللهﷻ رينښتني رسول يې.

نبی کریمﷺ وفرمايل: (تَفْعَلُ الْخَيْرَاتِ، وَتَتْرُكُ السَّيِّئَاتِ، فَيَجْعَلُهُنَّ اللَّهُ لَكَ خَيْرَاتٍ كُلَّهُنَّ) ښه کارونه وکړه، بدۍ پريږده، خدایﷻ به دې ټولې هغه بدۍ په نيکيو تبديلي کړي.

سپنږيری وويل: آيا چل، فريب او فتنې به هم راته بدلي کړي.

نبی کریمﷺ فرمايل: هو!

سپنږيری وويل: الله اکبر او همدارنگه تر هغه پورې يې تکبير ويلي تر څو پوري چې له سترگو پنا سو[1].

---

[1]- هثمي وايي: دا روايت طبراني کړي ده، او (بزاز) هم په همدې ډول روايت کړي ده. د بزاز ټول روايت کوونکي بغير له محمد بن هارون چې باوري ده نور يې ټول صحيح دي.(المجمع ٣٦/١) منذري په الترغيب و الترهيب کې وايي: د دې حديث انساد قوي او ښه دي.(جلد۴ ، مخ١١٣). ابن حجر په (الاصابة) کې وايي: دا په شرط سره صحيح دي. (جلد۴، مخ١۴٩)

ketabton.com - The Digital Library

کیدای شي دلته توبه کوونکی ته سوال پیدا شي او ووایې، کله چې زه گمراه وم، مالمونځ نه کاوه په داسي حال کې چې زه له دین او اسلامي امت څخه لري وم، خو ما ځیني نیک کارونه ترسره کړي دي. آیا له توبې وروسته د هغو ثواب ماته حساب شي او که له منځه ځي.

د پورتنۍ پوښتني جواب ته دقیق فکر وکړئ.

عروه بن زبیر رضی الله عنه وایي چې حکیم بن حِزام ماته خبر راکړ راته وویل: چې ما له نبی کریمﷺ ته وویل: آې د اللهﷻ رسوله! ستا مبارک نظر په دې اړه څه ده؟ کله چې د جاهلیت په وخت کې صدقي ورکولي، غلامان مې آذادول او زړه سوی مې کاوه. آیا هغه به اوس زما لپاره آجر حسابیږي؟

نبی کریمﷺ راته وفرمایل: (أَسْلَمْتَ عَلَى مَا أَسْلَفْتَ مِنْ خَيْرٍ)[1] ته د هغه نیکي له امله چې مخکې دې ترسره کړي وه مسلمان شوي یې.

## کله مې چې گناه وکړه، څه وکړم؟

امکان لري چې څوک ووایي کله چې گناه کې مبتلاء شم، څنگه کولای شم بې له ځنډه توبه وکړم؟ آیا داسي عمل شتون لري؟ چې وکولای شم له گناه وروسته یې ترسره کړم.

جواب: ښه داده چې د گناه له ترسره کولو وروسته دوه کارونه ترسره شي.

[1]- دغه حدیث امام بخاري روایت کړي ده.

ketabton.com - The Digital Library

1. د زړه له کومې پیښېماني او کلکه اراده کول چې بیابه دا ګناه نه ترسره کوي.
2. د بدن غړي باید په ډول ډول نیک عملونو باندې بوخت کړي، چې د هغو له جملې څخه یو هم د توبې لمونځ دي.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه روایت کوي، چې ما له نبی کریمﷺ څخه وواریدل چې ویل یې: (مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا، ثُمَّ يَقُومُ فَيَتَطَهَّرُ، ثُمَّ يُصَلَّى (رَكْعَتَيْنِ)، ثُمَّ يَسْتَغْفِرُاللَّهَ، اِلَّا غَفَرَاللَّهُ لَهُ)[1] بغیر له دې نه چې یو کس د یوي مهمې، لوي او بلي ګناه مرتکب شي، وروسته پورته شي آودس وکړي دوه رکعته لمونځ وکړي او له خدایﷻ څخه مغفرت غوښتنه وکړي، کیدای شي خدای تعالیﷻ یې وبښي.

وروسته ابوبکر صدیق رضی الله عنه لاندې مبارک ایت تلاوت کړ.

**« وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَٰحِشَةً أَوْ ظَلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ١٣٥ »**[آل عمران:۱۳۵] ژباړه: او کوم کسان چې داسي دي چې کله کوم د شرم او ناروا چاره ورڅخه صادریږي، یا کله د کومې ګناه په کولو سره په خپل ځان ظلم کوي. نو وروسره جوخت له اللهﷻ څخه بښنه غواړي، ځکه چې له اللهﷻ پرته بل څوک د ګناهونو بښونکی دي؟ او هغوي له پوهي او ادراک سره په خپلو بدو کړنو ټنګار نه کوي.

---

[2]- دغه حدیث اصحاب سنن روایت کړي ده. (صحیح الترغیب والترهیب ۲۸۴/۱).

ketabton.com - The Digital Library

نورو صحیح روایتونو کې د هغو دوه رکعاتونو ځانګړتیاوي او صفتونه بیان شوي دي. کوم څه چې تاسي لاندې لولئ د هغو لنډیز دي.

په ښه طریقه سره آودس کول ځکه ګناهونه او تیروتنې د آوداسه د اوبو له ورستي څاڅکې سره له بدن نه وځي. د آوداسه له ښه والی یو داده چې په شروع کې بسم الله او په پای کې مناسبه دوعا وکړي.

د هر چا لپاره له آوداسه وروسته دغه آذکار چې لاندې ذکر کیږي ډیر آجر لري.

(أَشْهَدُ أَنْ لَا اِلَهَ اِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِیکَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ - اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ – سُبْحَانَکَ اللَّهُمَّ وَبِحَمدِکَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا اِلَهَ اِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُکَ وَ أَتُوبُ اِلَيْکَ)

1. پورته شه دوه رکعته لمونځ وکړه.
2. هڅه وکړه چې په لمانځه کې د سهوي یا هیري ښکار نشي.
3. په لمانځه کې د بهرنیو مسایلو په اړه فکر مه کوه.
4. په دوه رکعته لمونځ کې په ښه ډول آذکار او عاجزي وکړه.
5. وروسته له الله جل جلاله څخه بښنه وغواړه.

### د ښه لمانځه او ښه آوداسه پایلې

1. تیر ګناهونه دې ببښل کیږي.
2. جنت درته واجب کیږي.[1]
3. د آوداسه او لمانځه په تعقیب دې خپل نیک عملونه او عبادتونه زیاتیږي.

---

[1]- صحیح الترغیب والترهیب (۹۴/۱ و ۹۵).

ketabton.com - The Digital Library

آیا تا نه دي آوریدلي، کله چې حضرت عمر رضی الله عنه له نبی کریمﷺ سره د خبرو پر مهال د حدیبې په غزا کې خپلې تیروتني ته متوجه سو، نووویل: له هغې پیښې وروسته مې نیک عملونه وکړل، تر څو خپل گناهونه پري پاک کړم. لاندنې حدیث کې چې کوم مثال ذکر کیږي لږ فکر ورته وکړه.

نبی کریمﷺ فرمایي: (انَّ مَثَلَ الَّذی یَعْمَلُ السَّیِّئَاتِ ثُمَّ یَعْمَلَ الْحَسَنَات، کَمَثَلِ رَجُلٍ کَانَتْ عَلَیْهِ دِرْعٌ ضَیِّقَةٌ قَدْ خَنَقَتْهُ، ثُمَّ عَمِلَ حَسَنَةً فَانْفَکَّتْ حَلْقَهٌ، ثُمَّ عَمِلَ أُخْرَ ًفَانْفَکَّتْ أُخْرَی، حَتَّی یَخْرُجَ اِلَی الْأَرْضِ)[1] هغه کس چې بد عملونه ترسره کوي، او بیا وروسته نیک عمل کوي، د هغه کس مثال لري چې تنگ فولادي کمیس یې پر تن وي، دومره تنگ وي تر دې چې هغه مړ کړي، خو کله چې یو نیک عمل ترسره کړي د دې تنگ کمیس یو کړۍ خلاصیږي، او کله چې بیا نیک عمل ترسره کړي بله کړي یې خلاصیږي، تر دې چې دغه فولادي کمس یې له بدن څخه وځي او په ځمکه لویږي.

نو ځکه دا نیک عملونه انسان د گناهونو له زندان څخه آذادوي. د عبادت او اطاعت نړۍ ته یې رسوي. گرانه وروره! هغه څه مو چې مخکې وویل: دلته یې درته لنډیز راوړو.

ابن مسعود رضی الله عنه نقل کوي چې یو کس د نبی کریمﷺ حضور ته راغی وویل: آې د اللهﷻ رسوله! ما په باغ کې یو ښځه ولیده بغیر له جماع څخه مې نور هر عمل ورسره وکړ، ښکل مې کړه، ساعتری مو وکړ. اوس چې هر کار غواړې له ماسره یې وکړه.

[2]- دغه حدیث طبرانی په معجم الکبیر کې روایت کړي ده. (صحیح الجامع۲۱۹۲).

ketabton.com - The Digital Library

**نبی کریمﷺ هيڅ ونه ويل: تر دې چې هغه سړی لاړه.**

**حضرت عمر رضی  الله عنه وويل: که چيري هغه سړی خپله گناه نه وای ښکاره کړي اللهﷻ خو يې گناه پټه کړي وه.**

**نبی کریمﷺ هغه کس ته وکتل وويل: هغه ماته راولئ.**

**کله يې چې هغه ورته راوسته، د قرانکريم دا آيت يې ورته ولوسته.**

**« وَأَقِمِ الصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّـَٔاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ۱۱۴ »[هود:۱۱۴] ژباړه: او لمونځ د ورځې په دواړه خواوو کې او څه د شپې په ساعتونو کې قائم کړه. په حقيقت کې نيکې بدي له منځه وړي او د هغو خلکو لپاره يادونه ده چې د خدایﷻ په ياد لرونکي دي.**
**معاذ رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه په روايت کې وويل: آې د اللهﷻ رسوله! ايا د سپارښتنه يوازې د دې کس لپاره ده او که د ټولو خلکو لپاره ده؟**

**نبی کریمﷺ وفرمايل: (بَلْ لِلنَّاسِ كَافَّةً)[1] د پيغام د ټولو خلکو لپاره دي.**

[1]- دغه روايت امام مسلم روايت کړي ده.

ketabton.com - The Digital Library

## بد ملګري مې تعقيبوي!

ممکن ته ووايې غواړم توبه وکړم خو بد او فاسد ملګري مې هر ځای تعقيب کوي، کله چې په ما کې کوم بدلون ومومي، نو په پرلپسي ډول مې تر نيوکو لاندې راولي، په داسي حال کې چې زه د هغوی په وړاندې د ضعيفي احساس کوم. ته ووايه چې زه څه وکړم؟

مونږ وايو: صبراو استقامت وکړه دا دالله ﷻ قانون ده چې خپل نيک او مخلص بندګان آزمويي، تر څو رښتنی بندګان له دروغجنو او چلبازانو څخه بيل کړي، او همدارنګه ناپاکې له پاکې څخه بيله کړي.

اوس دې چې په دې نيکه لاره کې قدم ايښې نو پياوړی او ثابت قدمه اوسه. دا د انسانانو او جنياتو شيطانان دي چې يو بل ته وحي کوي، پيغامونه رسوي، او هڅه کوي چې بيرته دې هغه پخوانی حالت وګرځوي. نو هيڅکله بايد له هغو څخه پيروي ونکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

هغوی په لومړیو کې تاته وايي دا توبه یو احساساتي کار دي چې ژر به ختم شي، او دا به وايي چی دا یو موقتي حالت دي چې تیر به شي، خو د حیرانتیا خبر دا ده چې ځیني نږدي ملګرې به دې د توبې په لومړیو کې دا خبره درته کوي نږدې ده چې بیرته هغه پخوانی حالت ته وګرځي او ګناه وکړي.

د حیرانتیا ځای دا ده چې کله توبه کوونکی له خپلې معشوقي سره مخامخ شي، او په چیغو ورته ووایي چې ما توبه کړي، او نور نه غواړم چې ګناه وکړم. دغه معشوقه به څه وخت وروسته ورته راشي، ورته به ووایي: ژر ده چې دا فکر او وسواس له تا څخه لري شي.

ولي هوښیار اوسه آې توبه کوونکیه! اللهﷻ فرمايي: « **قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ١ مَلِكِ النَّاسِ٢ إِلٰهِ النَّاسِ٣ مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ٤ الَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ النَّاسِ٥ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ٦**»[سورة الناس] ژباړه: زه د خلکو رب ته پنا وروړم، د خلکو پاچاته، د خلکو حقیقي معبود ته، د هغه وسوسه اچونکو له شر څخه پنا وړم چې په وار وار ځي راځي هغه چې د خلکو په زړنو کې وسوسي اچوي که هغه له پیریانو څخه دي او یا هم له انسانانو څخه دي.

ketabton.com - The Digital Library

**آ یا د الله ﷻ اطاعت غوره ده، او که د بد ملګري؟**

ته باید په دې پوهېږې! هغوي هرځای ته درپسي راځي، او دا هڅه کوي چې په هر وسیله وي بیرته دې د ګمراهي طرف ته وګرځوي. یو توبه کوونکی کیسه راته کوله ویل یې: وروسته له هغه مې چې توبه وکړه. یو بد ملګري مې دخپل موټر ډیرور ته آمر وکړ، چې دمسجد په لاره راپسي راشي وروسته یې د موټر له کړکۍ نه ماته غږ کاوه، او دا هڅه یې کوله چې ما له جماعت اود مسجد له نورو غونډو څخه راوګرځوي.

دلته الله ﷻ فرمایي: « **يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِى الْءَاخِرَةِ ...**»[ابراهیم:۲۷] ژباړه: الله ﷻ ایمان راوړنکو ته په دونیا او اخرت دواړو کې د یوي ثابتي وینا پر بنسټ ثبات په برخه کوي.

بد ملګری کوښښ کوي چې په هره وسیله وي، تاته تیر یادونه درپه زړه کړي او هغه درته ښایسته کړي. نو هیڅلکه د هغوي پیروي ونه کړي، او خبرو ته یې غوږ ونه نسي، هوښیار اوسه چې په فتنه کې دې مبتلاء نه کړي. دلته د کعب بن مالک رضی الله عنه کیسه ذکر کوو.

ketabton.com - The Digital Library

هغه وخت چې نبی کریمﷺ خپلو یارانو او اصحابو ته آمر وکړ چې د کعب بن مالک سره دې خبري نه کوي، ځکه چې د تبوک په غزا کې یې ګډون نه وو کړي، تر هغه وخت پوري چې په اړه یې الهی فرمان نازل سو.

په دې وخت کې د غسان کافر بادشا کعب بن مالک رضی الله عنه ته یو لیک ولیږه، پکې لیکي وو:(ماته خبر رسیدلي ده چې ستا دوست نبی کریمﷺ په تا باندې ظلم کړي ده، په داسي حال کې چې خدایﷻ ته دخواري، ذلت او سختي لپاره نه یې پیدا کړي، نو په دې خاطر له مونږ سره یوځای شه تر څو په تا مهرباني وکړو.)

هو! دغه کافر غوښتل چې د کعب بن مالک رضی الله عنه زړه په لاس راوړي، هغه د مديني له ښار څخه خارج کړي او د کفر په ځمکه یې تباء او منحرف کړي.

آیا تاسي پوهیږي د دې لوی صحابي ځواب ورته څه وو؟ کعب بن مالک رضی عنه وایي: کله چې مې هغه لیک ولوست، له ځانه سره مې وویل دا یو بل امتحان دي، دتناره خواته لاړم او هغه لیک مې وسوځاوه.

آې مسلمان وروره! ته هم داسي وکړه هر بد او فاسد سړی او ښځه چې تاته لیک لیږي،هغه وسوځوه، په ایرو یې تبدیله کړه او دا په یاد ولره چې هغه دې د اخرت په اور وسوځوی.

« فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ٦٠ »[الروم:٦٠]

ژباړه: (آې پیغمبرهﷺ!) صبر وکړه په یقیني توګه د اللهﷻ وعده ریښتني ده، او هیڅکه به خلک تا بي ثباته ونه مومي چې باور نه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

## هغوي ما ويروي!

يو څوک وايي! غواړم توبه وکړم خو پخواني دوستان مې ويروي، راته وايي چې د پخوانيو ګناهونو او اشتباوو په خاطر به دې د خلکو په منځ کې رسوا او رازونه به دې افشاء کړو. هغو سره زما عکسونه او ثبتونه دي، زه د خپل مقام او شهرت له داغ څخه ويريږم ډير ويريږم.

ورته وايو! د شيطان د ملګرو او پلويانو په وړاندې مقابله وکړه، په حقيقت کې د شيطان لومې او چلونه ډير سست او ضعيف دي[1]. په دې وپوهيږه! څومره زور او قوت چې د شيطان د پلويانو لخوا څخه په تا باندې راځي، ستا د صبر، استقامت او ثابت قدمي په وړاندې ډير ژر له منځه ځي او سره پاشل کيږي.

وپوهيږه! که چيري ته له هغو سره يوځای شوي او ورڅخه وويريدي، نو له پخوا څخه به ډير ذليله او خوار شي. له هغو څخه پيروي مه کوه په دې لاره کې له اللهﷻ څخه مرسته او کومک وغواړه. ووايه «حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الوَكِيلُ» په دې وپوهيږه کله به چې نبی کريمﷺ له يو قوم څخه ويريده ويل به يې: (اللَّهُمَّ اِنَّا نَجْعَلُکَ فِی نُحُورِهِمْ، وَنَعُوذُبِکَ مِنْ شُرُورِهِمْ)[2] آې اللهﷻ

---

[1]- اشاره د سورة نساء ٧٦ ايت ته ده.

[2]- دغه حديث امام احمد او ابو داود روايت کړي ده. (صحيح الجامع ۴۵۸۲).

ketabton.com - The Digital Library

مونږ تا د خپلو بندګانو په وړاندې ودروو، او د هغوي له شر او بدي څخه یوازي تاته پنا وړو.

هغه توبه کوونکی چې مخکې یې له بدو ملګرو سره ملګرتیا درلوده، دا حالت ورته ډیر سخت وي او دا یې حال نور هم سختوي. هغه ویروي ورته وایې: مونږ دې خبري ثبت کړي، انځورونه دې هم راسره شته که چیري ته مونږ پریږدي تابه د خپلي کورنۍ کې رسوا او بدبخته کړو.

هغه توبه کوونکې اوس په داسي حالت کې شتون لري، چې هیڅکله یې د دې حالت هیله یې نه درلوده، ته وګوره د شیطان پلویان له هغو توبه کوونکو سره چې له فحشا او منکراتو څخه یې توبه کړي څنګه مبارزه کوي. ځکه دوي د توبه کوونکو پخواني او بد اعمال خپروي او به هغوي رواني فشار اچوي، خو د دې ټولو لومو، چلونو او فشارونو سره سره مهربان خدایﷻ له متقیانو او توبه کوونکو سره ملګری ده. هغوي (توبه کوونکې) هیڅکله یوازي نه پریږدي، هغه بنده چې اللهﷻ ته پنا یوسي هیڅکله به ناهیلي نشي. په دې پوه شه چې له هري سختۍ وروسته اساني وي، او له هر فشار او تنګسیا وروسته خلاصون وي.[1]

آی توبه کوونکیه خور/ وروره! دغه له پنده ډکې کیسه ښه په غور ولوله، د هغو خبرو ښکاره ثبوت به پکې ووینې چې مونږ یې مخکې یادونه وکړه.

---

[1]- د اللهﷻ وعده ده، چې هر کس تقوا اختیار کړي نو هتمن به په سختي او تنګي کې نجات او خلاصون پیدا کوي. (وَمَن يَتَّقِ اَللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ٢)[ سورة الطلاق ٢]

ketabton.com - The Digital Library

دا د هغه زړور او لوی صحابي مرثد بن مرثد غنوي رضی الله عنه کیسه ده، چې د اسلام مبارک دین لپاره یې خپل ځان قربان کړي ؤ. دنده یې دا وه چې له مکي څخه په پټه توګه بندي او مظلوم مسلمانان مدیني ته انتقال کړي.

په یو صحیح روایت کې راځي چې دغه سړی مرثد بن مرثد غنوي نومیده، په پټه به یې مسلمانان اسیران له مکي څخه مدیني ته وړل، دغه سړي له یوې بدکاري ښځې سره چې عناف نومیده ملګرتیا درلوده. یو ورځ مرثد بن مرثد غنوي د مکې له یو مسلمان اوسیدونکې سره چې په مکه کې اوسیده وعده وکړه، چې هغه به آذادوي او مدیني ته به یې وړي.

مرثد بن مرثد غنوي وايي یو شپه چې سپوږمۍ په اسمان کې ځلیده، لاړم دکلي د دیوالونو د سیوري څخه د یو دیوال سیوري ته ورسیدم، دلته عناف راغله د هغې سیوري مې په دیوال باندې له خپل سیوري سره ولیده ماته چې راورسیدله وپیژندلم وویل:

مرثده ته خپله یې!

ورته ومې ویل: هو خپله یم.

وویل: په خیر راغلي زړه مې دې خوښ کړ، راځه دا شپه تر سهار یو ځای تیره کړو.

ورته ومې وویل: آی عناف زنا الله ﷻ حرامه کړي ده.

یو ناڅاپه یې چیغې کړي! آی ساتونکو دا هماغه کس ده چې ستاسو بندیان آذادوي، او له ځانه سره یې مدیني ته وړي. اته نفره ساتونکې راپسې سو له

ketabton.com - The Digital Library

مکې څخه د وتلو په یو لار مې خندمة غره ته ځان ورساوه، یو غار کې پټ شوم هغوي مې په تعقیب پسي راغلل آن د غار ترسره پوري راورسیدل، خو خدای تعالیﷻ زه د هغوي له سترګو څخه پټ کړم وروسته لاړل زه بیرته هغه مسلمان ته ورغلم هغه مې له ځان سره یووړ.

ډیر عجب او سنګین سړی ؤ،کله چې د آذخر سیمې ته ورسیدم زولني مې ورخلاصي کړي، کله چې مدیني ته ورسیدم بغیر له کوم ځنډ څخه د نبي کریمﷺ حضور ته ورغلم ورته ومې ویل: آی د اللهﷻ رسولهﷺ! آیا زه له عناف سره واده وکړم؟ دوه ځلي مې دا پوښتنه وکړه خو نبي کریمﷺ هیڅ ونه ویل تر څو پوري چې د آیت نازل شو.

« **الزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ**»[النور:٣] ژباړه: زنا کار سړی دي له زناکاري یا مشرکې ښځي پرته بل څوک نکاح نه کوي، او د زناکاري ښځې سره د زناکار یا مشرک سړي پرته بل څوک نکاح کوي.

د دې په دوام نبي کریمﷺ وفرمایل: آی مرثده زناکار سړی یوازي د یویې زناکاري او مشرکې ښځې سره نکاح کوي، او زناکاره ښځه هم یوازي د یو زناکار یا مشرک سړي سره نکاح کوي. نو ته له هغې سره نکاح مه کوه.[1]

که په بدو حالاتو کې هغه څه رامنځته شول چې تا ترې ویره درلوده، او یا ځیني پټ رازونه دې ښکاره شول او وضاحت ته یې اړتیا پیښه شوه، نو خپل موقف خلکو ته ښکاره کړه، او په توبه باندې اعتراف وکړهووایه: هو! زه

---

[1]- صحیح سنن ترمذي ٣/ ٨٠

ketabton.com - The Digital Library

مخکې ګناهګار وم خو اوس مې توبه کړې ده، اوس تاسو له ما څخه څه غواړې؟

دا باید په یاد ولرې چې رسوایې په حقیقت کې هغه رسوایې ده، چې د قیامت په ورځ د اللهﷻ په حضور کې کیږي. هو! په دغه ورځ به غټه رسوایې یې. داسې نه ده چې د سلو یا دوه سوه کسانو تر مخ او یا هم د زرو یا دوه زرو کسانو تر مخ بلکې د ټولو مخلوقاتو په مخ کې به وي، هغه که جینیات وي او که انسانان، له آدم نه نیولې تر اخرې انسانه پورې ټول به ننداره کوي.

د ابراهیمع دوعا ته رجوع وکړئ.

« **وَلَا تُخْزِنِى يَوْمَ يُبْعَثُونَ٨٧ يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ٨٨ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ**٨٩»[الشعراء: ٨٧-٨٩] ژباړه: او ما په هغه ورځ مه رسوا کوه چې کله ټول خلک ژوندي را پاڅول شي٨٧ کله چې نه مال څه ګټه ورسوي نه آولاد ٨٨ پرته له دې څخه چې څوک له روغ او سپڅلي زړه سره د اللهﷻ حضور ته ورغلي وي٨٩

کوښښ وکړې چې په سختیواو مشکیلو حالاتو کې د نبي کریمﷺ د دعاګانو په وسیله خپل مشکیل حل، او له ځان څخه ساتنه وکړې.

(اللهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا، وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا) آی اللهﷻ! زمونږ بدی، عورتونه او کمزورۍ پټې کړه، او زمونږ ویره په امنیت بدله کړه.

(اللَّهُمَّ اجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا، وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيْنَا) آی اللهﷻ! له هغو کسانو څخه زمونږ بدله واخله، چې پر مونږ یې ظلم کړی او مونږ ته د هغه چا په وړاندې مرسته او نصرت راکړه، چې زمونږ پر ضد یاغي شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

(اللَّهُمَّ لَا تُشْمِتْ بِنَا الأَعْدَاءَ وَلاَ الْحَاسِدِيْنَ) دښمنانو او حسدگرو ته زمونږ د سپکاوي او طعني ویلو اجازه مه ورکوه.[1]

[1]- د نبوي صحیحو دوعاگانو د لا ښه پیژندني لپاره کولای شي (توشه مسلمان) کتاب ته مراجعه وکړي، دا کتاب د شیخ سعد بریگی د الاذکار الصحیحة کتاب ژباړه ده.

ketabton.com - The Digital Library

## گناهونو مې زنده ګي تياره او ترخه کړې ده

امکان لري يو څوک ووايي چې ګناهونه مې دومره زيات دي، تر دې چې اوس مې توبه کړې ده، خوهغه ګناهونه مې لا ځوروي او تعقيبوي. د تيرو ګناهونو يادونو مې ژوند تريخ کړي ده، ارامتيا او استراحت يې رانه اخيستې ده، د سترګو خوب او د ژوند سکون مې ګډ وډ شوي ده. آيا له دغو فشارونو څخه خلاصون او سکون ته د رسيدلو لاره څه ډول ده؟

آی مسلمانه وروره! تاته وايم دا علايم چې په تا کې موجود دي، دا دصادقي توبې نښې دي، دغه حالات چې په تا راغئي دا د پيښماني حالتونه دي، په داسې حال کې چې پيښماني خپله توبه ده. نو بناً هغه څه چې په تا تير شوي دي هغه ته د اميد په سترګو وګوره، او له الله ﷻ څخه دا هيله وکړه چې الله ﷻ دې ګناهونه معاف کړي. هيڅکله د الله ﷻ له رحمت څخه مه ناهيلي کيږه ځکه الله ﷻ فرمايي: « قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ٥٦ »[الحجر:٥٦] ژباړه: ابراهيم ع وويل: د خپل رب له رحمت څخه ګمراهان ناهيلي کيږي.

ابن مسعود رضی الله عنه وايي: د کبيره ګناهونو له جملي څخه يو هم شرک له الله ﷻ سره ده، دوهم له الهی عذاب څخه د خلاصون او اطمينان احساس او دريمه ګناه د الله ﷻ له رحمت څخه ناهيلي کيدل دي.[1]

مسلمان بايد د ويرې او هيلې په حالت کې الله ﷻ ته رجوع وکړي، ځکه د ضرورت په اساس يو پر بل باندې غالبه کيږي، کله چې ګناه کوي ويره پرې

---

[1]- عبدالرزاق دا روايت نقل کړي ده، هيثمي او ابن کثير صحيح بللي دي.

ketabton.com - The Digital Library

غالبه کیږي تر څو چې توبه وکړي، خو کله چې توبه وکړي بیا هیله پري غالبه کیږي تر څو له اللهﷻ څخه ښښنه وغواړي.

## آیا اقرار وکړم؟

یو کس په ډیر غمګین آواز کې سوال وکړ. غواړم توبه وکړم آیا دا ضر ور ده چې لاړشم او په خپلو ګناهونو باندې اقرار وکړم؟ آیا دا د توبې له شرطونو څخه یو شرط دي؟ آیا لاړشم په محکمه کې د قاضي په وړاندې د خپلو ګناهونو اقرار وکړم او پر ځان د حدودو جاري کولو غوښتنه وکړم؟ که داسي نه وي نو د هغو لیکنو معنا څه ده، چې به مخکنیو صفحو کې تیر شوي دي. (ماعز، هغه ښځه او هغه سړی چې په باغ کې یې ښځه ښکل کړي وه.)

آې مسلمانه وروره! تاته وایم د توحید له هغو لویو ګټو څخه چې اللهﷻ پرې راضي کیږي، یو هم داده چې بنده له خپل رب سره پرته له هر ډول واسطي او وسیلي اړیکه ولري.

« وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ »[البقرة:۱۸٦] ژباړه: او آی پیغمبرهﷺ! زما بنده ګان که ستا څخه زما د لریوالي یا نژدیوالي په اړه پوښتنه کوي، نو هغه ته ووایه چې زه ورته ډیر نږدي یم. بلونکې چې کله ما وبلي زه د هغه بلنه اورم او ځواب ورکوم.

کله چې دې ایمان راوړ نو توبه خاص د اللهﷻ لپاره ده، او همداسي په ګناء باندې اقرار کول هم خاص د اللهﷻ لپاره دي. لکه څنګه چې په سیدالاستغفار کې لرو. (أَبُوءُ لَکَ بِنِعْمَتِکَ عَلَيَّ، وَ أَبُوءُ بِذَنْبِي) اي

ketabton.com - The Digital Library

الله‌ﷻ کوم نعمتونه دې چې ماته راکړي دي په هغه اقرار کوم، او کوم ګناهونه مې چې کړي په هغه هم اقرار کوم.[1]

مونږ مسلمانان الحمدالله د مسیحیانو په رقم نه یو چې روحانی پلار، د ګناء د اقرار څوکۍ، د ګناء ښنلو سند او یا هم نور خندونکي شرایط او اصول ولرو. الله‌ﷻ فرمایي: « أَلَمْ يَعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ »[التوبة:۱۰۴] ژباړه: آیا دې خلکو ته معلومه نه ده، چې همغه الله‌ﷻ دي چې د بنده ګانو توبه قبلوي.

د حدودو جاري کول که چیري تر امام، حاکم او یا هم قاضي پوري ونه رسیږي، نو دا ضرور نه ده چې انسان محکمي ته لاړ شي او په خپلو ګناهونو اقرار وکړي. هغه کس چې الله‌ﷻ یې ګناهونه پټ کړي وي تر هغه وخته پوري چې ټولني او یا هم اشخاصو ته یې زیان نه رسیږي، نو باید خپل عزت وساتي او خپل ګناهونه پټ کړي. کومه ریښتني توبه چې د ده او الله‌ﷻ ترمنځ شوي ده کافي ده.

د الله‌ﷻ له نومونو څخه یو نوم الستیر ده یعني د خپلو بنده ګانو د ګناهونو پټول خوښوي. خو د نبي کریم ﷺ د اصحابو کسي چې پورته ذکر شوي، کومو چې په خپلو ګناهونو باندې اقرار کړي ؤ، هغه د هغو په شخصي حالت پوري اړه لري. ځکه دوي د خپل ځان پاکوالي ته ډېر حریص ؤ، او هغه کار یې وکړ

[1]- د پوره سید الاستغفار د پیدا کولو لپاره کولای شي د دعاګانو کتابونو ته لکه: الماثورات د شیخ حسن البنا کتاب، توشه مسلمان د البریکی کتاب او نور د حدیثو کتابونو ته مراجعه وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

چې په دوي باندې لازم نه ؤ، يعني اقرار يې وکړ. نو په همدې دليل کله چې ماعز او يا هم هغه ښځه چې د نبي کريمﷺ حضور ته راغلل، له دوې څخه يې مخ واړوه د دوي خبرو ته يې پاملرنه ونه کړه.

همدارنګه حضرت عمر رضی الله عنه چې د هغه کس (په باغ کې يې چې ښځه ښکل کړې وه) په اړه داسې خبره کړې وه.( که چيرې ده په خپلو ګناهونو باندې اقرار نه واې کړې، نو اللهﷻ يې په ګناهونو باندې پرده اچولې وه) د دې خبرې په مقابل کې نبي کريمﷺ سکوت اختيار کړ، دا ددې ښکاره دليل دې چې د ګناهونو پټول غوره دي.

نوبناً کوم ګنهګار بنده چې اللهﷻ رسوا نه کړې، او په عيبونو يې پرده واچوې، نو ضرور نه ده چې محکمې ته لاړ شي او د خپلو ګناهونو اقرار په رسمي ډول ثبت کړې. همدارنګه دا هم لازمه نه ده چې د مسجد امام ته ورشي او له هغه څخه پر خپل ځان د حدودو د جاري کولو غوښتنه وکړې، او نه هم دا ضرور ده چې له کوم ملګري څخه په خپل کور کې د حد دجاري کولو او يا هم په دورو وهلو کې مرسته وغواړې لکه څنګه چې د ځينو کسانو په ذهنونو کې ګرځي.

نو په همدې وخت کې د ناپوهه کسانو ناسم چلند له توبه کوونکو سره څرګند کيږي. لاندې کيسه په ځير سره ولولئ.

يو ورځ يو ګنهګار بنده د مسجد يو ناپوهه امام ته ورغي، هغه ته يې د خپلو ګناهونو اقرار وکړ او له هغه څخه يې وغوښتل چې حد پرې جاري کړې، خو هغه امام ورته وويل: ته لاړ شه محکمې ته هلته په رسمي ډول خپل اقرار

ketabton.com - The Digital Library

ثبت کړه، تر څو په تا باندې شرعي حد جاري شي او له هغه وروسته به ستا په اړه پريکړه کيږي. کله چې دغه سړي وليدل چې دايې په وس پوره نه ده له خپلي توبې تير شو او هغه پخوانې حالت ته وګرځيده.

آی مسلمانه! د دين د احکامو پيژندل امانت دي، همدارنګه د دغو احکامو طلب له صحيحو مصادرو او سرچينو څخه هم امانت دي. لکه څنګه چې الله ﷻ فرمايي: «فَسْئَلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ۴۳»[النحل:۴۳] ژباړه:له باخبره خلکو څخه پوښتنه وکړئ که تاسي نه پوهيږي.

«اَلرَّحْمَنُ فَسْئَلْ بِهِ خَبِيرًا۵۹»[الفرقان:۵۹] ژباړه: ډير مهربان دي، نو د هغه د شان پوښتنه له کوم پوهيدونکي څخه وکړه.

د الله ﷻ رحمت ډير پراخه ده، د الله ﷻ عام رحمت ټول په خپله غيږه کې رانغښتي دي، هغه که اطاعت کوونکي، ګنهګار او يا هم کافر خو ټول له دې رحمت څخه برخمن دي.

نو بناً واعظ او وينا کوونکي ته پکار نه ده چې فتوا ورکړي، او دا صلاحيت هم نه لري. همدارنګه د مسجد امامان او مؤذنين دا صلاحيت نه لري، چې په خلکو شرعي حدود جاري کړي، او همدارنګه هر آديب او کيسه کوونکي دا حق نه لري چې شرعي فتواوي نقل کړي. د فتوا په اړه بايد له يو مسلمان څخه پوښتنه وشي چې دا فتوا يې له چا څخه اخيستي ده، ځکه دا شرعي آمر دي.

نبي کريم ﷺ د خپل امت په خاطر له ګمراه کوونکو امامانو او مشرانو څخه ويريدلي ده. په دې اړه د سلفو صالحينو يو عالم داسي ويلي دي: دا علم خپله دين ده نو تاسي فکر وکړي چې خپل دين له چا څخه زده کوي.

ketabton.com - The Digital Library

آی د الله ﷻ بنده ګانو! له هغو ځایونو نه ځانونه وساتي، چې پرې غولیږي او هر هغه ستونزه چې د دین په اړه درته پیدا کیږي، پوښتنه یې د دین له عالمانو او متخصیصنو څخه وکړي نور الله ﷻ مهرباني دي.

## د توبه کوونکو لپاره مهمې فتواوي

کیدای شي ته ووایي چې غواړم توبه وکړم، خو د توبې له احکامو خبرداری نه لرم او زما په ذهن کې له ځینو ګناهونو څخه د توبې کولو د صحت په اړه ډیرې پوښتني دي. همدارنګه ما چې د الله ﷻ په حقوقو کې کوتاهي کړې او د خلکو حقوق مې ضایع کړي دي، څنګه یې بیرته ورکړم؟ آیا د دغو پوښتنو ځوابونه شته؟

آی د الله ﷻ لور ته روجوع کوونکیه! لاندې ځوابونه په دقت سره ولوله، دا ستا د وجود دننه اضطراب او اندیښنه لږ څه کمه کړي.

**لومړی سوال:** زه د یوې ګناه مرتکب شوم خو بیرته مې توبه وکړه، ولي نفس اماره او بدۍ مې په ما غالبه شوي، تر دې چې بیرته په هغه ګناه مبتلاء شوم. آیا زما لومړۍ توبه باطله شوه؟ آیا دغه ګناه له هغو پخوانیو ګناهونو سره یو ځای اوس هم په غاړه ده؟

**لومړی جواب:** ډیر اسلامي علماء ګناه ته بیرته نه ګرځیدل د توبې له شرطونو څخه نه دي یاد کړي. هغه چې د توبې په شرطونو کې لازم دي. لکه: له ګناه څخه لاس اخیستل، له ګناه څخه پیښماني او قاطع اراده چې بیرته به داګناه نه تکراري وي. نو که چیري دغه کس بیا دا ګناه وکړه، د هغه کس په شان ده

ketabton.com - The Digital Library

چې نوی دګناء مرتکب شوي وي، او دا ګناء نوې توبې ضرورت لري. نوبناً لومړۍ توبه صحیح ده.

**دوهم سوال:** آیا په داسي حال کې یوې ګناء څخه توبه صحیح ده، چې په بله ګناء باندې ټينګار کوي او هغه تر سره کوي.

**دوهم جواب:** هو! له هغې ګناء څخه توبه صحیح ده، که چیري یو شخص بله ګناء کوي خو د دې لومړي ګناء به شان او مثل نه وي، نو له هغې لومړۍ ګناء څخه توبه کول یې صحیح دي.

د مثال په توګه: که چیري یو کس له سود خوړلو څخه توبه وکړي، خو شراب خوري نو دغه کس چې له سود خوړلو څخه توبه کړي هغه صحیح ده.

که چیري یو کس له سود فضل[1] څخه توبه وکړي، مګر سود نسیه[2] نه توبه ونه کړي، نو هغه لومړۍ توبه یې نه صحیح کیږي. ځکه سود فضل او سود نسیه دواړه یو شان ګناهونه دي. همدارنګه که چیري یو کس د حشیشو له څښولو څخه توبه وکړي، خو شراب خوري دا توبه یې هم نه صحیح کیږي. یا هم یو کس له یوې ښځې سره له زنا کولو څخه توبه وکړي، مګر له بلي ښځې سره زنا کوي نو دا توبه هم نه صحیح کیږي. په ټوله کې د دغو کسانو کردار

---

[1]- که چیري په یو مجلس کې یو کس ته یو کیلو طلاء یا نقره ورکړل شي، او په بدل کې یې په همدغه مجلس کې یو نیمه کیلو جنس واخیستل شي دې ته سود فضل وايي او حرام ده.

[2]- که چیر یو کس ته یو کیلو طلاء ورکړل شي او ورته ووايې چې یو میاشت وروسته به دوه کیلو راکوي (یعني وخت کې وټاکل شي) نو دې ته سود نسیه وايي او حرام ده.

ketabton.com - The Digital Library

داده چې له یو ډول گناه څخه توبه وکړي، خو د هغې لومړۍ گناه په څیر بلې ته رجوع کوي. د دې موضوع د لا ښه وضاحت لپاره د ابن قیم رحمه الله کتاب مدراج السالکین ته مراجع وکړئ.

**دریم سوال:** په تیر وخت کې مې د الله ﷻ حقوق ضایع کړي دي. لکه لمونځ، روژه او زکات... خو اوس باید څه وکړم؟

**دریم جواب:** د لمانځه په پریښودلو او قضاء کولو کې راجح قول داده چې قضایې نه لري، ځکه وخت یې تیر شوي ده، او د دغو قضاشوي لمونځونو د راگرځولو لپاره معین وخت( هغه وخت چې لمونځ پکې قضاء شوي ده) نه وي. نو ددغو قضاء شوي لمونځونو پر ځای باید ډیره توبه او استغفار وکړي، او په ډیر تعداد سره نفلي لمونځونه او عملونه وکړي کیدای شي خدای تعالی یې وبښي.

که چیري یو کس چې مسلمان وي او روژه یې قضاء کړي وي، نو د هري ورځې په قضایې کې یوه ورځ روژه او یو مسکن ته باید خواړه ورکړي. که چیري بغیر له کوم شرعي عذر څخه د رمضان روژه پریښي وي، نو قضایې باید مخکې له دې چې بل رمضان راشي راوگرځوي، او که چیري دا قضایې څو پرله پسې روژې پاتې شي نو دا دوه چنده نه کیږي.

مثلاً: که چیري یو کس په ۱۴۰۰ کال کې دری روژې خوړلي وي، او بیا په ۱۴۰۲ کال کې پنځه روژې خوړلي وي نو وروسته له دریو کلنو څخه توبه وکړي، او د دغو قضاء شوي روژو د نیولو اراده ولري نو په دې صورت کې باید اته ورځې روژه او اته مسکینانو ته خواړه ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library

مثلاً: یو انجلۍ په ۱۴۰۰ کال کې بلوغ ته رسیږي خو له شرمه دغه خبره خپلي کورنۍ ته نشي کولای، او د میاشتني عادت پر مهال یې اته ورځي روژه نیولي وي او وروسته یې قضایې هم نه وي راوړي، له څه ورخت وروسته یې توبه وکړه اوس باید اته ورځي روژه ونسي.

دلته لازمه ده چې د روژې د قضایي او د لمانځه د قضایي ترمنځ توپیر وشي، البته یو ډله علماء په دې متقید دي چې که څوک په قصدي ډول روژه وخوري نو هغه قضایې نه لري[1].

که چیري له چا څخه زکات پاتې وي نو پري واجب ده چې هغه ټول زکاتونه راجمعه کړي او وریې کړي، چې مخکې یې نه وي ورکړي ځکه دا له یو طرفه د الله ﷻ حق دي او له بله طرفه د فقیرانو او مسکینانو حق دي. د دې موضوع د ښه وضاحت لپاره مدراج السالکین ته ۳/۱ ته مراجع وکړي.

**څلورم سوال:** که چیري یو کس د انسان په حق کې بدي وکړي، نو له دې ډول گناه څخه باید څنگه توبه وکړي؟

**څلورم جواب:** (مَنْ كَانَتْ لأَخِيهِ عِنْدَهُ مَظْلَمَةٌ، مِنْ عِرْضٍ أَوْ مَالٍ، فَلْيَتَحَلَّلْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ يُؤْخَذَ مِنْهُ يَوْمَ لَا دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ، فَإِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ، وَ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَجُعِلَتْ عَلَيْهِ) رواه البخاري.

[1] دلته مطلب دا نه ده چې بیخي دې قضایې نه راوړي. نه بلکې که هر څومره روژې ونسي خو د دې یو ورځي فرضي روژې چې په قصدي ډول یې خوړلي ده اجر او ثواب نه ورته حاصلیږي.

ketabton.com - The Digital Library

که چیري یو کس باندې د مسلمان وروړ حق پاتې وي هغه که مالي وي او یا ځاني، خو باید له هغه څخه عفوه وغواړي مخکې له دې چې داسي ورځې ته ورسیږي، چې هلته هیڅ دنیار او درهم نه وي. که چیري دغه کس نیک عمله وي نو بیا به له نیک عملونو څخه د خپل ظلم په اندازه بدله ورکوي او که چیري نیک عمل ونه لري نو بیا به د هغه مسلمان وروړ ګناهونه به راخیستل کیږي او دغه کس ته به حسابیږي.

نوبناً دغه کس کولای شي چې په دوه ډوله د خپل کړي ظلم بدله ورکړي. ۱- حق بیرته خپل صاحب ته وسپاري. ۲- له هغه څخه عفوه وغواړي هغه هم د هغه چا په خوښه چې ظلم پري شوی ده.

**پنځم سوال:** ما د ډیرو خلکو غیبت کړي او په ډیر مې تهمتونه لګولي دي، نو د توبې او بښني لپاره زه باید هر څه(غیبت او تهمت) مې چې کړي هغوي ته ووایم. که چیري داسي کوم شرط وجود نه لري، نو زه څه ډول توبه وکړم؟

**پنځم جواب:** دغه مسله دلته موجوده حالاتو ته په کتو سره ارزوو.

که چیري هغو خلکو ته چې تا یې غیبت او تهمت کړي هر څه ووای، او هغوی پرې غوسه نشي نو ته کولای شي چې هر څه ورته ووایي او په یو عمومې جمله کې ورنه بښنه وغواړي. مثلاً: ورته ووایي په تیر وخت کې مې ستا په حق کې غلطي کړي ده او یا مې د خبرو په وسیله په تا ظلم کړي ده. اوس مې د الله ﷻ په حضور کې له دې ګنا څخه توبه کړي، نو ته هم مهرباني وکړه او ماته بښنه وکړه. ( دلته زیاتي تشریح ته ضرورت نشته چې څه دي ویلي هغه ورته ووایه.)

ketabton.com - The Digital Library

که چیري هغو خلکو ته چې تا یې غیبت او تهمت کړي ده هر څه ووایي، او هغوی پرې غوسه شي چې اکثره وخت همداسي کیږي، او یا هم غواړي چې په یوه جمله کې یې پوه کړي خو هغوي د زیات تفصیل غوښتنه کوي، چې له دې تفصیل اوریدو سره د هغوي غوسه نوره هم زیاتیږي نو بیا ضرور نه ده چې هر څه ورته ووایي.

ځکه چې شریعت د فساد د زیاتیدو او اختلافاتو د رامنځته کیدو آمر نه کوي. له هغه څه نه د یو چا خبرول چې مخکې له دې راحت ؤ خو په اوریدلو سره یې نا راحته شو، چې دا د شریعت له اهدافو سره چې د خلکو په منځ کې د میني او یوالي خپرول دي مخالفت لري. کیدای شي دوښمني رامنځته شي او هیڅکله د هغه کس چې غیبت یې شوي ده زړه صفا نشي، نو ویل یې ورته ضرور نه دي.

په داسي حالاتو کې د توبې لپاره دغه امور کفایت کوي. لکه:۱- پښیماني ۲- له الله ﷻ څخه د مغفرت غوښتل ۳- د گناه پر بدی په دقت سره فکر کول او دا باور لرل چې دا گناه حرامه ده.

خپل ځان باید هغه چاته چې د هغه غیبت یې کړي او یا یې په هغه تهمت لگولي ملامت کړي، او له هغه څخه دفاع وکړي. همدارنگه هغه باید په ښو الفاظو سره یاد کړي، که چیرته په کوم مجلس کې په هغه باندې ظلم کیږي، نو کوښښ دې وکړي چې د هغه ښیگڼې بیان کړي او د هغه صفت وکړي.

که یو کس د چا غیبت کړي وي نو باید له هغه څخه دفاع وکړي، هر ځل یې چې ویني او یا کوم کس چې د هغه غیبت کوي او یا په هغه ظلم کوي، نو باید

ketabton.com - The Digital Library

د دې کار مانع شي او نورو ته د دې اجازه ورنه کړي چې په حق کې يې ظلم وکړي.

که چيري يو کس د بل کس غيبت وکړي نو بايد د هغه په نشتون کې له اللهﷻ څخه ښښنه وغواړي. (د دې موضوع د لاښه وضاحت لپاره مدراج السالکين ۱۲۹/۱ او المغنی او شرحه يې ۷۸/۱۲ صفحي ته مراجعه وکړئ.

پام وکړه آی مسلمانه وروره! مالي حقوقو، بدني جرمونو او غيبت ترمنځ ترپير شتون لري، ځکه مالي حقوق هغه وخت چې د حق خاوند پرې خبر شي چې تا ترې ګټه پورته کړي ده، کيدای شي خاوند پرې خوشحاله هم شي نو ځکه د داسي خبرو پټول جواز نه لري.

مګر هغه حقونه چې د خلکو په عزت او ابرو پوري تړلي وي، او يا هغه حقوق چې که خلک پرې خبري شي بغير له دې چې ستونزه رامنځه کړي بله کومه پايله نه لري نو د داسي خبرو پټول غوره دي.

**شپږم سوال:** که چيري يو کس په قصدي ډول قتل وکړي، نو بايد څه ډول توبه وکړي.

**شپږم جواب:** که چيری يو کس په قصدي ډول سره قتل وکړي، نو په دغه قاتل باندې دری ډول حقوق باقي پاتي کيږي. ۱- د اللهﷻ حقوق ۲- مقتول حقوق ۳- د مقتول د وارثانو حقوق

د اللهﷻ حقوق: دغه حقوق يوازي په خالصه توبه سره آدا کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

د مقتول د وارثانو حقوق: دا حقوق هغه وخت آدا کیږي چې کله قاتل خپل ځان د مقتول وارثانو ته وسپاري. نور د هغو خوښه چې قصاص کوي که دیت ترې اخلي او که ښښنه ورته کوي، مګر د مقتول حقوق باقي پاتې کیږي ځکه دا امکان نه لري چې په دې دنیا کې حق ورکول شي، نو په دې اړه اسلامي علماء وایي.

که چیري د قاتل توبه صادقانه وي، نو الله ﷻ خپله د مقتول حقوق د ده له غاړي لري کوي، او د قیامت په ورځ الله ﷻ مقتول ته له خپله اړخه نیکي ورکوي تر څو حق یې آدا شي. د دې موضوع په اړه تر ټولو ښکلي نظر همدغه ده. (مدراج السالکین جلد۱ صفحه۲۹۹)

**اووم سوال:** یو غلا کوونکی څنګه کولای شي چې توبه وکړي؟

**اووم جواب:** که چیري هغه غلاشوي مال ورسره وي، بیرته دې خپل خاوند ته وسپاري او که چیري له منځه تللي ؤ او یا د استعمال او وخت تیریدو له وجي ارزښت کم شوي ؤ، نو باید د همدغه غلاشوي مال معادل ورته واخلي او خاوند ته یې وسپاري او یا هم د دغه غلاشوي مال قیمت ورکړي. که چیري د مال خاوند بغیر له هر څه وبانښه دا بیا تر ټولو غوره خبره ده.

(حمد او ثنا یوازي د الله ﷻ لپاره دي)

**اتم سوال:** زه چې هر کله له هغو کسانو سره مخ کیږي چې ما ورنه غلا کړي، ډیر اندیښمن او تر تاثیر لاندې راځم نشم کولای چې هغوي ته ووایم او د ښښنې غوښتنه ترې وکړم. ته ووایه څه وکړم؟

ketabton.com - The Digital Library

**اتم جواب:** اوس چې ته نشي کولای چې له هغوي سره مخامخ شي، نو په تا باندې واجبه هم نه ده له بلي لاري هڅه وکړه چې حقوق يې آدا کړي.

مثلاً: د يو بل کس له لاري يې حقوق ورته وليږه بغير له دې چې تا ورته معرفي کړي، او يا هم د پست له لاري ورته واستوه. او يا داسي خبري ورته وکړه چې ظاهراً يو مطلب ولري خو اصلي مطلب نه وي چې مخاطب يې فکر کوي، ورته ووايه چې دغه ستاسو حق ده چې يو شخص سره ؤ او نه يې غوښتل چې د نوم يادونه يې وشي، په هر صورت مهمه داده چې حق خپلو خاوندانو ته ورسيږي.

**نهم سوال:** د پلار له جيب څخه مې يوه اندازه پيسي غلا کړي دي، خو اوس غواړم توبه وکړم خو دقيق نه پوهيږم چې څومره پيسي مې غلا کړي دي؟ زه له دې ويره لرم چې که دا خبره ورسره شريکه کړم بد غبرگون به وښي، زه خپل ځان گنهگار گڼم.

**نهم جواب:** ته بايد د هغو غلاشوي پيسو اندازه په خپل غالب گمان سره وټاکي، او دا هيڅ ستونزه نه لري چې په پټه سره دغه غلاشوي پيسي خپل پلار ته وگرځوي لکه څنگه دې چې غلا کړي دي.

**لسم سوال:** ما له ځينو خلکو څخه غلا  کړي ده، خو اوس مې توبه کړي او د هغو خلکو پته راته معلومه نه ده، نو زه څه وکړم؟

بل وويل: له يو شرکت څخه مې يو اندازه مالونه غلا کړي دي، د هغه شرکت کار اوس ختم شوي ده او هيواد يې پريښي، نو زه څه وکړم؟

ketabton.com - The Digital Library

دریم کس وویل: له یو تجارتي ځای څخه مې جامي راغلا کړي دي، اوس یې ځای تغیر کړي ده او خاوند یې هم نه پیژنم، نو زه څه ډول توبه وکړم؟

**لسم جواب:** لومړی خو باید تر خپله وسه پوري کوښښ وکړي چې د هغوي ځایونه پیدا او مالونه یې بیرته ورته وسپاري، او که چیري خاوندان یې وفات شوي یې بیا به یې وارثینو ته سپاري، خو له ډیر لټون وروسته په دې ونه توانیدي چې د هغو پته پیدا کړي، نو بیا دغه غلاشوي مالونو د هغو د خاوندانو په غیاب کې صدقه کړه، او د هغوي پر ځای نیت وکړه چې که چیري کافر هم وي الله ﷻ به یې په دې دنیا کې کې بدله ورکړي نه په اخرت کې.

دغه مسله هغې کیسي ته ورته ده چې ابن قیم رحمه الله په خپل کتاب مدارج السالکین جلد۱ صفحه ۳۸۸ کې رانقل کړي ده.

په اسلامي عسکرو کې یو کس له بیت المال څخه غلا وکړه، څه وخت وروسته یې توبه وکړه هغه څه یې چې غلا کړي ؤ بیرته یې د ډلي قومندان ته راوړل مگر هغه قبول نه کړل ورته وویل: زه دا څه ډوله هغو عسکرو ته ورسوم په داسي حال کې چې هغوي ټول سره تیت شوي دي.

دغه توبه کوونکی شخص حجاج بن شاعر ته ورغي، او له هغه څخه یې د فتوا غوښتنه وکړه حجاج ورته وویل: الله ﷻ د هغې ډلي عسکر او جگړه کوونکي په نوم او قوم سره پیژني، نو بناً له دغه غلاشوي مال څخه پنځمه حصه بیت المال ته بیله کړه او باقي د هغو سپاهیانو پر ځای صدقه کړه ځکه چې الله ﷻ یې هغوي ته رسوي. توبه کوونکي شخص همداسي وکړل. کله

ketabton.com - The Digital Library

چې دغه خبر معاويه رضی الله عنه ته ورسيده وويل: په تحقيق سره ستا فتوا ماته له نيم سلطنت څخه ډيره محبوبه ده.

په دغه مسله کې شيخ السلام ابن تميه رحمه الله همدغسي فتوا لري کومه چې په مدراج السالکين کې راغلي ده

**يوولسم سوال:** ما يو اندازه مال له يتيم څخه غصب کړ، په هغه مې تجارت شروع کړ ډيره گټه مې وکړه تر دې چې هغه مال څو برابره شو، په دې وخت کې له اللهﷻ څخه وويريدم او پيښمانه شوم اوس څنگه توبه وکړم؟

**يوولسم جواب:** علماء په دې مسله کې مختليف نظرونه لري، خو تر ټولو معتدل او راجح نظر داده چې اصلي مال ( هغه چې له يتيم څخه اخيستل شوي ده) او له نيمايي گټې سره يوځای بيرته يتيم ته ورکول شي. داسي چې گواکي په گټه کې ورسره شريک وي په داسي حال کې چې اصلي مال به هم بيرته ورته سپاري. دغه فتوا د امام احمد بن حنبل، ابن تميه او د شاگرد يې بن قيم رحمه الله ده. مدراج السالکين جلد ۱ صفحه ۳۹۲

که چيري يو شپونکی له چا څخه يو اوښ يا هم پسه په زور واخلي، دغه اوښ يا پسه دغه شپونکی ته بچيان وزيږوي، خو له څه وخت وروسته دغه شپونکی توبه وکړه اوس به هغه اوښ يا پسه بيرته اصلي مالک ته ورکوي او هم به د دغه اوښ او پسه له بچيانو نه نيمايي برخه ورکوي.

**دولسم سوال:** يو کس په هوايي باربري ترمينل کې کار کوي، دلته کله نا کله ځني مالونه بې صاحبه پاتي شي نو دغه کارکوونکی هم د غږ ثبتولو يو اله غلا کړه. له څه وخت وروسته يې توبه وکړه اوس پوښتنه داده چې آيا هغه آله

ketabton.com - The Digital Library

بیرته ورته وسپاري او که قیمت ورکړي او یا هم د دې آلي په څیر بله آله ورته واخلي؟ په داسي حال کي چې اوس دا ډول آله په بازار کې پیدا کیږي هم نه.

**دولسم جواب:** هغه غږ ثبتونکي آله به له قیمت سره یوځای باید اصلی خاوند ته وسپاري، قیمت یې ځکه باید ورکول شي چې دا دومر وخت پرې تیر شوی ده او یا هم استفاده شوي ده. خو دا سپارل باید په داسي شکل سره وشي چې ځانته پکې زیان ونه رسوي، که چیري کوم خنډ شتون درلوده نو باید د دغي آلي قیمت د اصلي خاوند په غیاب کې صدقه کړي.

**دریالسم سوال:** دسود له اموالو څخه یو اندازه مال راسره ؤ، هغه مې ټول مصرف کړ اوس هیڅ راسره پاتې نه دي اوس مې توبه کړي ده، نه پوهیږم چې کوم شي پر ما واجب دي؟

**دریالسم جواب:** هیڅ شي په تا واجب نه دي بغیر له دې چې په اخلاص سره د اللهﷻ لپاره ریښتني توبه وکړي، خو دا خبره باید په یاد ولري چې سود ډیره یو خطرناکه گناء ده ځکه اللهﷻ په قرانکریم کې له هیچا سره د جگړي اعلان نه دي کړي مگر له سود خوړونکو سره یې کړي ده. اوس چې له تاسره د سود مالونه پاتي نه دي او ټول له منځه تللي دي، نو پر تا هیڅ شي واجب نه دي.

**څوارلسم سوال:** ما په داسي پیسو سره موټر واخیسته چې نیمي حلالي او نیمي حرامي وي، اوس هغه موټر هم راسره نشته نه پوهیږم څه وکړم؟

**څوارلسم جواب:** که چیري یو کس په حلاله او حرامه شتمني سره یو داسي څه واخلي چې هغه د بیلیدو نه وي، لکه کور، موټر او داسي نور... نو باید له خپلي نوري شتمني څخه د هغه د حرامو په اندازه صدقه ورکړي تر څو هغه

ketabton.com - The Digital Library

حرامي پيسي پرې پاکې شي، او که چيري دغه حرام مال د چا حق وي نو پري واجب ده چې د دغه مال وضاحت ورکړي او مثل يې بيرته ورته وسپاري.

**پنځه لسم سوال:** ما د مخدره توکو له تجارت څخه يو اندازه مال تر لاسه کړ، نه پوهيږم څه وکړم؟ همدارنګه که دا مال له حلالو مالونو سره ګډ شوي وي، نو څه کول پکار دي؟

**پنځه لسم جواب:** که چيري يو کس په حرامو شيانو لکه د موسقي سامان، ويديوګاني او مخدره توکو باندې تجارت وکړي او د دغو شيانو له حکم نه هم خبر وي، وروسته توبه وکړي نو څومره ګټه يې چې له دغه تجارت څخه په لاسه راوړي ده، ټوله بايد د خير په کارونو کې ولګوي او له دغه مال څخه بايد صدقه ورنه کړي، ځکه الله ﷻ پاک ده او پاک شيان خوښوي.

که چيري حلال مال له حرامو سره ګډ شوی وي، لکه يو دوکاندار چې د نورو مباح توکو ترڅنګ سګرټ هم خرڅوي نو لازمه ده چې د خپل زحمت او تشخص په وسيله د حرام مال اندازه معلومه کړي، او په غالب ګمان سره يې له خپل مال څخه بيله کړي. نو په وسيله به يې خپل کار له حرامو څخه پاک شي، په دې بايد وپوهيږي چې الله ﷻ به يې په يوز کې خير او برکت ورکوي ځکه الله ﷻ ډير پراخوونکی، بښونکی ا و لوی ذات دي.

که چيري د يو کس شتمني له حرام مال څخه وي، او د دغه کسب کار پرمهال کافر وي نو لازمه نه ده چې له توبې وروسته له خپلو اموالو څخه حرام مال جلا کړي. ځکه نبي کريم ﷺ له خپلو صحابو څخه هيڅکله نه غوښتل چې

ketabton.com - The Digital Library

خپلو مالونو څخه هغه حرام مالونه جلا کړي چې د جاهلیت په زمانه کې په حرامو لارو تر لاسه کړي وي.

که چیرې یو کس د دغه حرام کسب کار پرمهال مسلمان وي، او په دې پوهیږي چې دا حرام کار دي، نو کله چې توبه وکړه هغه حرام مالونه یې چې له حرامو لارو څخه لاسته راوړي دي باید له خپلي شتمني څخه جلا کړي او د خیر په لارو یې ولګوي.

**شپاړلسم سوال:** یو کس مخکې رشوت اخیستي دي، خو وروسته الله‎ﷻ هغه نیکي او مستقیمي لاري ته هیدایت کړ، اوس له هغو مالونو سره چې د رشوت له لاري څخه یې ترلاسه کړي دي، څه وکړي؟

**شپاړلسم جواب:** داسي شخص له دوه حالتونو څخه خالي نه وي.

اول حالت: که چیري دغه کس له یوظالم څخه رشوت اخیستي وي، او د دغه ظالم هدف دا وي چې د رشوت له لاري هغه څه ترلاسه کړي چې حق یې نه ؤ، نو په دغه حالت کې دغه د رشوت مال بیرته رشوت ورکوونکي ته نه ورکول کیږي. په توبه کوونکي لازمه ده چې دغه مال د خیر په کارونو ولګوي او په فقیرانو یې مصرف کړي. همدارنګه دغه کس باید له هغه څه څخه توبه وکړي، په کوم څه کې چې باعث شوي ده چې حق حقدار ته ونه رسیږي.

دوهم حالت: که چیري دغه کس له مظلوم څخه رشوت اخیستي وي، او دغه مظلوم کس یې دیته مجبور کړي وي چې د خپل حق په ترلاسه کولو کې باید رشوت ورکړي او له دې پرته بله لاره هم نه لري، نو په دې حالت کې باید توبه

ketabton.com - The Digital Library

کوونکی دغه د رشوت مال بیرته خپل خاوند ته ورکړي، ځکه هغه يې په زور سره دې کار ته مجبور کړي ده.

**اوولسم سوال:** ما ځيني حرام کارونه کړي دي، او په مقابل کې مې يو اندازه مالونه ترلاسه کړي خو اوس مې توبه کړي ده. آيا دغه مالونه بيرته هغو کسانو ته وسپارم، چې ماته يې د دې حرام کار په مقابل کې راکړي دي؟

**اوولسم جواب:** که چيري يو کس حرام کار کوي او په مقابل کې يې مزدوري ترلاسه کوي، نو کله چې توبه وکړي بايد دغه حرام مالونه له خپلې شتمنې څخه جلا او د خير په لارو کې ولگوي، او هيڅکله يې هغو کسانو ته واپس نه کړي چې ترې اخيستي دي.

مثلاً: يو زناکاره ښځه چې له يو زناکار سړي څخه د زنا په بدل کې کومې پيسې ترلاسه کوي، له توبې وروسته بايد بيرته هغه ته ونه سپاري.

يا هم يو موسقي غږونکي چې د خپل کار په بدل کې کومې پيسې اخلي، له توبې وروسته بايد د مجلس خاوند ته بيرته ورنه کړي.

همدارنگه کولای شو په دغه موضوع کې ډير مثالونه وړاندې کړو. د پيسو د بيرته نه ورکولو علت دادي که چيري دغه حرام مال بيرته خاوند ته واپس شي، بيايي په حرامو لارو مصرفوي او له نورو خلکو څخه استفاده کوي، نو يو ځل بيا د الله ﷻ نافرماني کوي. نو بناً دغه توبه کوونکی شخص بايد دغه حرام مالونه د خير په کارونو کې خرچ کړي. دغه نظر شيخ السلام ابن تميه رحمه الله غوره کړي ده، او شاگرد يې ابن قيم رحمه الله ورته ترجيح ورکړي ده.( مدراج السالکين جلد ١ صفحه ٣٩٠)

ketabton.com - The Digital Library

**اتلسم سوال:** ما یو کار کړی ده چې له امله یې زه ډیر پریشانه او ورخطا یم، هغه کار داده چې ما له یوې ښځې سره زنا وکړه. نه پوهیږم چې څنگه توبه وکړم؟ آیا د دې رسوایی د پټولو لپاره جایزه ده چې زه له هغې سخې سره نکاح وکړم؟

بل کس پوښتنه کوي: زه په یو بهرني هیواد کې د زنا د ناوړه عمل مرتکب شوم، چې له دینه هغه ښځه حامله شوه. آیا هغه ماشوم زما زوي دی؟ آیا د هغه نفقه پر ما واجبه ده چې ورواېستوم؟

**اتلسم جواب:** د فحشا او ناوړه اعمالو په اړه پوښتنې دومره زیاتې شوي دي چې اوس په ټولو مسلمانانو واجبه ده چې په خپل حالت نظر واچوي، د قران او سنتو په رڼا کې مستقیمي لاري ته رجوع وکړي.

په ځانگړي ډول دغو مسایلو ته لکه: د سترگو د نظر ساتل، له نامحرمو ښځو سره له خلوت څخه ډډه کول، له نامحرمو ښځو سره لاس نه لگول، د اسلامي حجاب رعایت کول، د ښځو او نارینو د گډ کار او تعلیم ځایونه خطرات په گوته کول او همدارنگه د اسلامي کورنۍ بیا رغول، له پاکو او باکیره ښځو سره نکاح کول هغه موضوعات دي چې جدي پاملرنه غواړي.

هغه کس چې د زنا د ناوړه عمل مرتکب شوی وي، له دوه حالتونو څخه خالي نه وي.

لومړي حالت: که چیري یو کس به زور او جبر سره بیغیر د ښځې له خوښي څخه له هغې سره زنا وکړي، نو دغه کس باید مهر مثل هغې ښځې ته ورکړي، په دې خاطر چې هغې ته یې ضرر او زیان رسولي دي. د دې ترڅنگ باید

ketabton.com - The Digital Library

صادقانه توبه هم وکړي. که چیري دغه مسله د مسلمانانو آمر او یا قاضي ته ورسیږي نو باید دغه کس د شریعت له حدودو سره سم جزا ومني. د دې موضوع د لا ښه وضاحت لپاره (مدارج السالیکین جلد ۱ صفحه ۳٦٦) مراجعه وکړي.

دوهم حالت: که چیري یوکس د یوې ښځې په خوښه له هغې سره زنا وکړي، نو دغه باندې لازمه ده چې یوازي صادقانه توبه وکړي، او له دغې زنا څخه یې چې کوم ماشوم پیدا کیږي هغه هم په دغه سړي پوري اړه نه لري او نه یې نفقه د ده په غاړه ده. ځکه دا ماشوم له ناوړه عمل څخه دونیا ته راغلي ده، او یو داسي حالت ده چې د ماشوم په مور پوري اړه لري او جایز نه ده چې دغه ماشوم دغه زناکار سړي ته منسوب شي.

همدرانګه توبه کوونکی ته جایز نه ده چې د خپلي ګناء د پټولو لپاره له هغې ښځې سره نکاح وکړي. ځکه خدایﷻ فرمایي: « **لزَّانِى لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ** »[النور:۳] ژباړه: زناکار سړي سره دي له زناکاري یا مشرکي ښځې پرته بل څوک نکاح نه کوي، او د زناکارې ښځې سره دې له زناکار سړي یا مشرک پرته بل څوک نکاح نه کوي.

له هغې ښځې سره نکاح کول جواز نه لري چې د زنا د ناوړه عمل له لاري حامله شوي وي حتی که دغه ماشوم د همدې سړي هم وي، همدا ډول له داسي ښځې سره هم نکاح جایزه نه ده چې معلومه نه وي چې دا حامله ده او کنه.

ketabton.com - The Digital Library

که چیرته دغه ښځه او نارینه دواړه صادقانه توبه وکړي او دا معلومه شي چې ښځه حامله نه ده، نوجایزه ده چې له هغې سره نکاح وکړي او نوي ژوند چې په هغه کې د اللهﷻ رضا وي شروع کړي.

**نولسم سوال:** څو کاله مخکې د زنا د ناوړه عمل مرتکب شوم چې په پایله کې له هغې ښځې سره نکاح وکړه، څوکاله مو یو ځای زنده ګي وکړه خو اوس مونږ دواړه خالصه او صادقانه توبه کړي ده. مونږ څه وکړو؟ او پر مونږ څه واجب دي؟

**نولسم جوال:** که چیري ستاسي توبه صحیح او صادقانه وي نو پر تاسي واجب ده چې د ولي د رضایت او دوه شاهدانو په حضور کې بیا شرعي نکاح وکړي. البته دا مهمه نه ده چې دا نکاح دې په عام محضر کې وشي، بلکې په خپل کور کې د دوه شاهدانو او ولي په شتون سره کفایت کوي.

**شلم سوال:** یو ښځه وایي ما له نیک او صالحه سړي سره واده کړي ده، په داسي حال کې چې مخکې له واده ما ځیني کارونه ترسره کړي دي چې له هغو څخه اللهﷻ راضي نه ؤ، اوس مې د وجدان عذاب ځوروي. دغه ښځه پوښتنه کوي چې، آیا پر دې واجبه ده چې خپل تیر اعمال خپل خاوند ته بیان کړي؟

**شلم جواب:** په ښځه او خاوند باندې واجب نه ده چې د تیرو اعمالو په اړه چې له نکاح څخه مخکې ترسره کړي وي یو بل ته څه ووایي. هر کس چې د بدو او ناوړه اعمالو مرتکب شوي وي لکه څنګه چې اللهﷻ ښنونکی او د ګناهونو پټوونکی دي، نو دوي هم باید خپل ګناهونه پټ کړي او صادقانه توبه وکړي همدا ورته کفایت کوي.

ketabton.com - The Digital Library

خو که چیري یو کس له باکره ښځې سره نکاح وکړي او د واده په شپه دا معلومه شي، دغې ښځې له واده مخکې زنا کړې ده. نو دغه کس د دې حق لري چې ورکړل شوي مهر بیرته ترې واخلي او طلاق ورکړي. که چیرته یې ولیدل چې دغې ښځې توبه کړې ده نو غوره داده چې ګناهونه یې پټ کړي او طلاق ورنه کړي، ځکه په بدل کې یې اللهﷻ ورته اجر او ثواب ورکوي.

**یویشتم سوال:** که یو کس د لواطت له بیکاره او ناوړه عمل څخه توبه کړې وي، څه باید وکړي؟

**یویشتم جواب:** د دغه ناوړه عمل پر فاعل او مفعول باندې لازمه او واجبه ده چې ډیر لویه او صادقانه توبه وکړي او خدای تعالیﷻ ته رجوع وکړي، ځکه کیدای شي اللهﷻ په دوي باندې هم د لوط ؑ د قوم غوندې عذاب نازل کړي.

اللهﷻ د لوط له قوم څخه د سترګو لید واخیسته، هغوې یې ړانده کړل په داسي شکل سره چې بې هدفه په لاره تلل او زندګي یې کوله، لکه څنګه چې اللهﷻ فرمایي: «فَطَمَسْنَاَ أَعْيُنَهُمْ»[القمر:۳۷] ژباړه: په پای کې موږ د دوي سترګي ړندې کړې.

په هغوي مرګوني غړونه نازل شول، ځمکه یې په داسي زور سره ولړزیده چې ودانۍ ورکې او ړنګي شوې. اللهﷻ پر هغوداسي باران نازل کړ، چې له وچو او درنو ټوټو څخه جوړ ؤ، او د سهار تر سپیدو پوري یې ټول د هلاکت کندې ته ورسول.

نو بناً په دغه ناوړه عمل باندې چې حد جاري کیږي، محسن وي او که غیري محسن وی، متاهل وي او که مجرد سزا یې مرګ ده، ځکه نبي کریمﷺ

ketabton.com - The Digital Library

فرمايي: (مَنْ وَجَدْتمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ، فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ، وَالْمَفْعُولَ)[1] كه چيري يو كس پيدا كړي چې هغه د لوط؏ د قوم عمل كوي، نو فاعل او مفعول يې دواړه ووژنئ.

**دويشتم سوال:** ما توبه كړي ده خو ځيني حرام شيان لكه د موسيقي سامان او بيلابيل فلمونه اوس هم شتون لري. آيا دا جايز ده چې دا شيان وپلورم؟ په داسي حال كې چې قيمت هم ډير لوړ ده.

**دويشتم جواب:** د حرام اجسامو خرڅول او اخيستل جايز نه دي. همدارنګه هغه پيسي چې له حرامو څخه په لاس راځي هم حرامي دي. نبي كريمﷺ فرمايي: (اِنَّ اللَّهَ اِذَا حَرَّمَ شَيْئًا حَرَّمَ ثمَنَهُ)[2] په تحقيق سره چې اللهﷻ كوم شی حرام ګرځولي نو له هغو څخه په لاس راغلي پيسي هم حرامي دي.

په دې پوهيږي چې كه دغه حرام شيان واخستل شي او خرڅ شي، نو هتمن بيا ورڅخه استفاده كيږي نو له همدې امله يې اخيستل او خرڅول حرام دي. ځكه دا عمل اللهﷻ حرام ګرځولي دي. « وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوٰنِ»[المائدة:٢] ژباړه: او كوم كارونه چې ګناه او تيري وي، په هغو كې د هيچا ملاتړ مه كوئ.

---

[1]- دغه روايت ابو داود، ترمذي او ابن ماجه روايت كړي ده، او الباني په (ارواء الغليل) كې صحيح ګڼلي دهږ

[2]- دغه حديث ابو داود روايت كړي ده او صحيح يې بللي ده.

ketabton.com - The Digital Library

د دنیا مال کې که د الله ﷻ د رضا لپاره زیان ووینې، نو دابه د الله ﷻ په وړاندې ډیر غوره او دایمي وي. الله ﷻ به د خپل بې انتها فضل او کرم په واسطه تاته بدله درکړي.

**درویشتم سوال:** زه یو گمراه انسان وم تل به مې بې دینه افکار خپرول، په دې لار کې مې ډیر ناولونه او کفر آمیزه مقالې لیکلي دي. همدارنگه داسې شعرونه مې ویل چې خلک یې گناهونو ته وهڅول او فحشاء یې خپروله. خو الله ﷻ په خپل فضل سره له ظلم او تیارو څخه د روښنایې په لور هیدایت کړم. نه پوهیږم څنگه توبه وکړم؟

**درویشتم جواب:** په الله ﷻ قسم چې دا ډیر لوی او عظیم نعمت ده، او دغه توبه هماغه ریښتنې توبه ده چې د دې لپاره باید د الله ﷻ شکر آدا کړي، او له الله ﷻ څخه د ثبات او استقامت غوښتنه وکړي.

که چیري د یو کس قلم او ژبه له اسلام سره په جنگ، د انحرافي عقایدو په خپرولو او د فحشا به دودولو کې مصروف یې او وغواړي چې له دې کار څخه توبه وکړي، نو پرې واجبه ده چې لاندې کارونه ترسره کړي.

اول: توبه کوونکی باید ټول هغه کارونه چې ترسره کړي دي، که په هره لاره امکان لري باید ښکاره اعلان کړي تر څو له ټولو هغو کسانو څخه ښښنه وغواړي چې گمراه کړي دي. هغه منحرف افکار یې په دې موده کې خپاره کړي دي باید رسوا کړي تر څو نور کسان یې تر تاثیر لاندې رانشي او د شک اوشبهو په لومو کې ونه لویږي.

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه هغه غلطیاني چې دغه توبه کوونکی پکې مبتلاء شوي دي باید ښکاره کړي تر څو نور خلک پکې مبتلاء نشي، او له ټولو هغو خبرو څخه بیزاري وښيي چې مخکې ویلي ویلي وي. دغه څرګندوني د توبه کوونکی لپاره د توبې له شرایطو څخه ګڼل کیږي. څکه الله‌ﷻ فرمایي: « إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَٰئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ١٦٠ »[البقرة:١٦٠] ژباړه: البته څوک چې دا کار پریږدي، خپل کړه وړه سم کړي او څه یې چې پټ کړي وي د هغو په بیانولو پیل وکړي. هغوته به زه ښننه وکړم او زه لوی ښه توبه قبلوونکی او پوره رحم کوونکي یم.

دوهم: خپل ژبه او قلم باید د اسلام مبارک دین په تبلیغ او خدمت کې مصروف کړي، او تر کومه حده یې چې وس رسیږي باید د الله‌ﷻ د دین په خدمت او خلکو ته د حق په رسولو کې کوښښ وکړي.

دریم: هغه وړتیاوي لکه (قلم، ژبه او مهارتونه) چې مخکې یې د الله‌ﷻ د دوښمنانو په ملاتړ کې کارول، اوس باید د هغو پر ضد او د هغوي د د سیسو د شنډولو لپاره وکاروي.

همدارنګه باید د اسلام د دوښمنانو افکار باید غلط ثابت کړي او باطل پر ضد د حق توره شي. که چیري یو کس بل کس ته د یو حرام کسب د ګټو او جایزوالي په اړه څه ووایي، نو دغه کس ته پکار ده چې بیرته وروګرځي او هغه کس ته چې ګمراء کړي ده، د هیدایت او نیکي لار وښيي تر څو په دې وسیله د خپلو غلطیو کفاره آدا کړي. (یوازي الله‌ﷻ هیدایت کوونکی ده)

ketabton.com - The Digital Library

## وروستۍ خبري

آي د خدایﷻ بنده! اللهﷻ د توبې دروازه خلاصه کړي ده، آیا د غوره نه چې هغې ته داخل شي.

(اِن لِلتَّوْبَةِ بَابًا عَرْضُ مَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْهِ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، وفی روایة: عَرْضُهُ مَسِيرَةُ سَبْعِينَ عَامًا، لَا يُغْلَقُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا)[1] توبه هغه دروازه ده چې د دواړه اړخونو ترمنځ فاصله يې دومره ده لکه له ختځ نه تر لوديځ پوري. په بل روايت کې راځي چې پراخوالي د اويا کلنو د لاري په اندازه ده، او دا دروازه تر هغه پوري نه تړل کيږي تر څو لمر د لويديځ لخوا راپورته شوي نه وي.

په دې اړه د اللهﷻ خطاب ته غوږ ونسئ.

«يَا عِبَادِي! اِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَاللنَّهَارِ، وَ أَنَاَ أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْلَكُمْ»[2] آی زما بنده گانو! تاسي شپه او ورځ خطاء او اشتباهات کوي ولي زه ټول گناهونه ښښم، نو بناً زما څخه ښښنه او مغفرت وغواړي تر څو تاسي ته ښښنه وکړم.

آيا اوس دا غوره نه ده چې ښښنه او مغفرت وغواړي.

---

[1]- ده حديث طبراني په الکبير کې روايت کړي ده. (صحيح الجامع ٢١٧٧)

[1]- امام مسلم روايت کړي ده.

ketabton.com - The Digital Library

الله‌ﷻ د شپې لخوا بلاکیف لاسونه خلاصوي تر څو د ورځې دخطاکارانو توبه قبوله کړي، او همدارنګه د ورځې لخوا بلاکیف لاسونه خلاصوي تر څو د شپې د خطاکارانو توبه قبوله کړي.

په دې وپوهیږه چې الله‌ﷻ د خپل بنده د مغفرت غوښتو سره مینه لري، نو ایا دا غوره نه ده چې د الله‌ﷻ لورته رجوع وکړو.

په خدای‌ﷻ قسم چې د توبه کوونکی دا خبري څومره خوږې او اغیزمني دي.

آی خدایه! ستا په عزت او د خپل ذلت په سبب غواړم چې ما وبښي او په ما رحم وکړي.

آی خدایه! زه تاته فقیر اومحتاج یمه د خپل قوت او بې نیازي په خاطر زما کومک او مرسته وکړه، پیښماني او خطاوي مې ستا په وړاندې پرتې دي.

آی خدایه! ستا بندګان له ما پرته زیات او بې شمیره دي، خو زه له تا پرته بل بادار او واکدار نه لرم چې هغه ته پنا یوسم. له تا پرته مې ستا له عذاب څخه بل څوک نشي بچ کولای. د یو عاجز او خوار انسان په څیر ستا په دروازه کې زاری کوم.

دا غوښتنه هم لکه د هغه چا د غوښتنې په څیر ده چې غاړه یې ټېټیه شوي وي پوزه یې په خاورو لګیدلي وي سترګې یې سري، زړه یې مات او ذلیله وي.

ketabton.com - The Digital Library

**د توبې په اړه لاندې نصیحتونو او کیسو ته لږ توجو وکړې.**

رو ایت شوي ده چې یو نیک او صالح انسان له یو سړک څخه تیریده، یو ناڅاپه یې ولیدل چې د یو کور دروازه خلاصه شوه یو ماشوم چې ژړل یې او مرسته یې غوښته له هغه کور څخه راووته، مور یې هغه تعقیب کاوه تر دې چې د کور دروازه یې پسي بنده کړه ماشوم لږ وړاندې لاړه ودریده فکر یې وکړ، چې له دې کور پرته بل د پنا ځای نه لري او له مور پرته بل داسي څوک نشته چې په غیږ کې یې ونسي نو بیرته راوګرځیده، په داسي حال کې چې زړه یې مات او خفه ؤ ولیدل چې دروازه بنده ده هغې ته یې تکیه وکړه خپل مخ یې به دروازه باندې ولګاوه، په داسي حال کې چې اوښکې یې په مخ روانې خوب پري غلبه وکړه څه شیبه وروسته یې مور له کور څخه راووته ځنګه یې چې په خپل زوي سترګی ولګیدې، هغه یې په غیږ کې ونیو په ژړا او زاریو یې هغه ښکل کړ ورته وویل: چیرته تللي وي زویه؟ څوک له ما پرته تاته پنا درکوي؟ آیا نه مې وو درته ویلي چې له ما سره مخالفت مه کوه او د هغه مورني فطرت په اړه چې له رحم او شفقت څخه ډک ده په تنبیه کولو مجبوره کوي، وروسته یې هغه پورته کړ او کورته یې داخل کړ.

که وکتل شي الله ﷻ له دې مور څخه په خپل بنده باندې ډیر مهربان او رحم کوونکی ده. کله چې یو بنده توبه کوي الله ﷻ خوشحاله کیږي او کله چې الله ﷻ خوشحاله شي نو هیڅکله خپل بنده بې مزدوري نه پریږدي.

الله ﷻ د خپل بنده په توبه ډیر خوشحاله کیږي، خو تر ډیره د هغه چا پر توبه ډیر خوشحاله کیږي چې په دښته کې سفر کوي او په خطر کې وي، خو کله چې د یوې وني لاندې دمه کوي او اوښ یې چې خوراکي توکي پرې بار دي

ketabton.com - The Digital Library

همداسي خلاص پرېښي وي، کله چې بيدار شي څه ګوري چې اوښ يې نشته په خپله مخه تللی دي. دغه کس په ډېر ورخطايي سره له يوې غونډۍ څخه بلې غونډۍ ته منډې وهي خو څه پيدا نه کړي، په داسي حال کې چې ګرمې او تنده پرې غالبه کيږي ناچاره بيرته خپل ځای ته راوګرځي او د مرګ په انتظار کې شپې شميري، په داسي حال کې چې مکمل نااميده شي او اوږد وغځيږي خو يو ناڅاپه ويني چې اوښ يې سرته ولاړ دي سپړمې کشکوي او ټول خوراکي توکي هم پرې بار دي، نو دغه سړي ډېر خوشحاله کيږي.[1]

په دې پوهيږه آی مسلمانه وروره! ګناه د ريښتني توبه کوونکی په زړه کې د الله ﷻ په وړاندې ذلت رامنځته کوي. همدارنګه د توبه کوونکو ژړا د الله ﷻ لپاره ډېره غوره او محبوبه ده.

مسلمان بنده هميشه خپل ګناهونه په نظر کې نسي ځکه دا په مسلمان کې د زړه د ماتيدو او پيښماني احساس را پيدا کوي، چې په پايله کې يې دغه احساس دې ته مجبوره کوي چې د الله ﷻ زيات عبادت او بندګي وکړي، او تر هغه پوري چې وس وي نيک عملونه وکړي. تر دې چې شيطان هم په افسوس سره ووايي چې کاش دغه مسلمان مې په ګناه نه مبتلاء کولای. نوهمدا علت ده چې ځيني توبه کوونکی به نيک او صالحه کسانو باندې بدليږي.

په دې وپوهيږۍ! کله چې توبه کوونکی د الله ﷻ لور ته رجوع کوي، نو الله ﷻ هيڅکله هغه ته نه شا کوي.

---

[1]- صحيح الجامع ۳٦۸/۴.

ketabton.com - The Digital Library

آیا دا لاندې کیسه مو نه ده آوریدلې؟

په تیرو وختونو کې یو زوی د خپل پلار تر ملاتړ لاندې زنده ګی کوله، تر دې چې پلار یې بهترین خوراکي توکي، جامې، نیکه او صالحه تربیه ورته برابره کړې وه او د هغه ټول ضرورتونه یې پوره کول، تر دې چې یو ورځ د یو کار لپاره ولیږه خو په لار کې دوښمنانو اسیر کړ، کلک یې وتاړه او له ځانه سره یې خپلې ساحې ته ویوړ. کله چې دغه زوی ته د خپل پلار تربیه او هغه احسانونه چې په ده باندې یې کړي ؤ وریاد شول نو له ډیر غم څخه یې زړه درد وکړ.

دغه کس د دوښمن په بندي خونه کې ډیره سخته شیکنجه زغمله تر دې چې دوښمنانو یې د وژلو اراده وکړه، خو یو ناڅاپه یې په خپل پلار سترګې ولګیدې چې د ده خوا ته راروان ده او نږدې کیږي، ورمنډه یې کړه د خپل پلار مخته یې ځان ګذار کړه په چیغو یې ورته وویل: پلاره.. پلاره... پلاره! خپل زوي ته وګوره په څه حال شوی ده؟

په داسې حال کې چې اوښکې یې په آننګو رواني وې، خپل پلار یې ټنګ په غیږ کې نیولې ؤ او نه یې پریښود تر دې چې دوښمنان یې په تعقیب پسې راورسیدل او په سر یې ودریدل.

آیا ته داسې فکر کوې چې دغه پلار به خپل زوي په دې حالت کې دوښمنانو ته وسپاري، او له دې مسؤلیت څخه به ځان خلاص کړي. نه هیڅکه به داسې کار ونه کړي. نو بناً د هغه چا په اړه څه نظر لرې چې هغه له مور او پلار څخه ډیر مهربانه او رحم کوونکی ده؟

ketabton.com - The Digital Library

هر کله چې یو بنده له دوښمنانو څخه تیښته وکړي او د الله ﷻ لور ته رجوع وکړي، خپل ټول بدن د الله ﷻ دربار ته وړاندې کړي او له اوښکو ډکو سترګو باندې الله ﷻ ته سوال وکړي.

آی زما ربه! رحم وکړه په هغه چا باندې چې له تا پرته بل رحم کوونکي نه لري.

آی زما ربه! د هغه چا مرسته وکړه چې له تا پرته بل مرسته کوونکی نه لري.

هغه تاته مسکین، فقیر، محتاج او ستا د دروازي سوالګر ده.

یوازي ته پنا ورکوونکی یې او له پرته بل څوک پنا نشي ورکولي.

ستا له عذاب څخه یې له تا پرته بل هیڅوک نشي خلاصولي.

آی مسلمانه وروره! نیک او صالحه اعمال وکړه، د خیر په کارونو کې مرسته وکړه له نیکو او صالحه کسانو سره ملګرتیا وکړه. له هیدایت وروسته له شک څخه په کلکه ځان وساته، ځکه الله ﷻ له تا سره دي.

اَلْحَمْدُاللَّهِ الَّذِيْ بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ

ketabton.com - The Digital Library

## د ژباړن د اثارو لړلیک

### مقالي

- کتاب او که د ژوند ریښتنی ملګری **څېړنیزه مقاله**
- افغان کلتور او په معاصره نړۍ کې پرمختګ **څېړنیزه مقاله**

### ژباړې

- اربعین خلفای راشدین
- غواړم توبه وکړم همدغه اثر
- له بخاري او مسلم شریف څخه د سلو حدیثونو ټولګه

### لیکلي اثار

- د تابوت ورستي میخونه ناول
- ستا یادونه او زما اوښکي لنډې کسي
- د خوږمن زړګي اهونه آدبي لیکنې

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*